2 -FEB 12
Copy ____ 1959

د استقلال د معرکې لوی قهرمان اعلیحضرت محمد نادر شاه د تل په میدان کښې

کابل مجله

ملی زور

آسمان خړو، یخ ورښ ورو ورو چلیده،
او د کښتۍ نازک بیرغونه ئی رپول. په
سل گونو سپاره یکښی خوښ او دشلمۍ پیړۍ
په لمړیو لسو کلو کښی دلیری خاتیځ په لور
جاپان ته روان و.

د کښتۍ په یوه گوټ کښی دده تنه ولاړ وو
او د شنه سمندر نظاره ئی کوله دیوه په
لاس د جاپان یو اخبارو او بل ته ئی داسی
لوستنه. « پورته د هندوکش په زړه
کښی دپښتنو په خاوره کښی دنونسمی
پیړۍ په دوهمی نیمائی کښی بیشماره
ځوانان په وینو کښی ولمبیدل په یوه خوا
کښی تش لاسی ځوانان وو او له خپلی
خاوری ته ئی دفاع کوله. په بله خوا
کښی دتړی دډېر زورور طاقت لښکری وی
توپ او تویک ئی زیات و.
دشمیر اندازه ئی نه وه معلومه، او نه ماتیدونکی
نوم ئی هم لاره. جنگ و نښت، توپونه

د خپلواکۍ ساتندوی او د ملي اتحاد سمبول اعلیحضرت محمد ظاهر شاه چه د ده په لارښوونې سره
پښتون ولس د ترقي په لیار کښې مخ په وړاندې روان د،

د ۱۳۳۷ ش کال د سنبلې (۱) د ۱۳۷۸ ق د صفر المظفر (۲۰) د ۱۹۵۸ کال أگست (۲۳)

(۲۸ کال) ۱۲ گڼه

12

کابل

پښتو ژبنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند : پښتو ټولنه

د پښتو ټولنې مشر : گل پاچا « الفت »

مسئول مدیر محمد حسن « کاکړ »

پته : کابل - نادر پښتون واټ دیل خشتی په مقابل:

د ټیلفون نمبر (۲۱۲۹۱)

دمضامینو فهرست

مضمون	لیکونکی یا مترجم	مخ
زمونږ ملي ښادی	کاکړ	۱
تطبیقی ادب	الهام	۳
خپلواك ژوند	م.ز.	۱۳
دشېلی...	مترجم نظری	۱۵
دتاریخ فلسفه ...	ع.ر.م	۱۹
وراسته فکرونه ...	م.ز	۲۳
راغلي لیك	اتمان	۲۶
آزادی	ویښ	۲۷
اختر...	کوثر	۲۹
پرېکړی گوتې	خیبری	۳۳
آزاده نړۍ	میرا کبر	۳۷
دبیکن... ..	ز هما	٤۲

نوټ: ترلوستلو دمخه دې لاندی تصحیحات و شي.

۱۹مخ کښی د فلسفه تاریخ اوپښتونستان په ځای دتاریخ فلسفه اوپښتونستان.

۲٦ مخ کښی د(څېړنوال اتمان) په ځای څېړونکی اتمان.

زمونږ ملي ښادي

په ولسونو او قومونو کښې لوی لوی طاقتونه او قوتونه شته. طوفانونه له دوی څخه ولاړېږي، او ښتني او تحولات دوی مینځ ته راولي، او انقلابونه او شخصیتونه دوی زېږوي. خو دغو مره ده چه دا قوتونه تل نه وي ښکاره، بلکه زیاتره پټ غوندې وي. یوازې هغه وخت بر سېره کېږي او ولسي مشران تبارز کوي چه دا وچتېدو عوامل او شرایط یې برابر شي. کله چه دا ټول عوامل سره ګډ او ملګري شي او دا یې نیت شي چه یو ولس و خو ځوی نو طوفانونه راولاړ شي او انقلابونه تري جوړ شي په همدغسي انقلابونو او طوفانونو کښې وي چه ملي قهرمانان او ولسي مشران راوچت شي او تبارزو کړي او داسې لوې لوی کارونه و کړي چه د خپل ولس تاریخ یې په ډېر و یاړ ثبتوي.

خو ځېدنې او او ښتنې چه ولسي رنګ ولري، د ولس په ګټه تمامېږي همدغه وجه ده چه تاریخ یې هم دیوه ولس دپاره زښت زیات ار زښت لري او دیوی ټولنې وګړي ورته په درانده نظر ګوري. د ملي مشرانو او ملي مبارزینو قدر او عزت چه په هره ټولنه کښې له حده زیات وي له همدغه حقیقت څخه ولاړېږي. دا ځکه چه شخصیتونه او قهرمانان د ولس په وینو لو او واچتولو کښې زیات اثر لري دوی که تاریخ نه شي جوړولی نو د تاریخ په جوړولو کښې خو زښت زیات کومك کوي. هغه جامعه چه د رزګونو کلو تاریخ لري نو به ارومرو داسې خو ځېدنې او او ښتنې پکښې زیاتې وي او شخصیتونه او ملي قهرمانان به هم ارومرو پکښې ډېر ځله ولاړ شوي وي همدغه دلیل دی چه په پښتني جامعه کښې چه د بشریت له ډېر و قدیمي ټولنو څخه ده د انقلابونو او طوفانونو ورځې او شپې بېشماره دي. په هغو کښې یو هم په ۱۲۹۷ کال کښې د جوزا شپږمه ورځ (۲۶ دمی، ۱۹۰۹) ده. دا ورځ د ټولې پښتو تخواغیرت. مېړانه، توره، او قوت راښي. په همدغې ورځ کښې و چه پښتون ولس بایللی پت په ځای کړ، خپله پښتو اله یې تر سره کړه او دا یې وښوده چه پښتون په ازادي مین دی او هیڅوك دا قدرت نه لري چه پښتون لاندې وسماني او حکومت پري وکړي. په همدغې ورځ کښې و چه پښتون ولس خپل طبیعي او ذاتي اختیار چه نورو ترې سلب کړی وو، بېرته خپل کړ او د آینده ژوندانه دپاره یې نوې نظام او نوی سیستم برابر کړ او په نوی لیاره روان شو. دا نوی نظام او نوی ژوند یوازې دده په مټ او روز حاصل شو. هو، یوازې همدغه ولسي زور او قوت ؤ چه پښتنو په شلخیو تو پکو نو سره وکړای شوه د نړۍ له ډېر زورور

طاقت سره پنجه ور کړی او
برنګیان چه لښکري ، تو یونه او
اشیګنی او بمونه بې شماره لرل مات
او به شا کړی او د ښه یې مجبور
کړی چه د پښتون په حق اقرار
وکړی او دیره آزاد بشر چثیت
ورته قایل شی .

اصله قصه داده چه برنګیان
داتلسمې پیړۍ له صنعتي انقلاب
څخه راپه دې خوامخ په قوت
اوزور شول تردی چه به نو نسمی
پیړۍ کښې دنړۍ اول لمبر
قوت شول ، ښکته او پورته اراوبر
وکړز پدل مځکې او هېوادونه یې
لاندی کړل . په دې دول ئې دنړی
نړلمړۍ جنګ (۱۹۱۴-۱۹۱۸)
پورې د دنیا څلورمه برخه ونیوله
او لوی جنګ یې هم وګاته
او فاتح شول .

دهمدغه زور او قوت پاداوڅ
چه به نو نسمې پیړۍ کښې
د ټول هند له لاندې کولونه
وروسته به دی فکر شول چه
دهندوکش ناوې اومر چلونه
خپل کړی له څو کو اوهسکو
څخه یې واوړی او منځنی آسیا ته
انوځی او هغه هم به خپلی امپرا

توری کښې نغښاسی . هوی دخپل
دپرزور او تغنیکی لوړ والی په
اثر عزم وو چه بېله کوم مانع به
دهند و کش به درو و راندې
درومی او الکه نو روځایو کښې
چه بېله سختو مشکلا تو کامیاب
شول ، دلته به هم کامیاب وی او
څرك به ونشی کړای د دوی مخې
نه ودرېږی . همدغه وجه وچه
فار و ر دبالیسی یا دو را ندې
تللو سیاست یې غوره کړ . خو
دهندو کش به درو او سیمو کښې
هغه څه پرې وشول چه دوی یې
ګمان نه کاوه ، دپښتونخوا زلمیانو
د دوی نقشی ور انی کړی په درو
اومر چلونو کښې یې په ځان
راو ستل او مجبور یې کړل
چه دوړاندې نګ له سیاست
څخه لاس واخلی او بل سیاست
غوره کړی . نو یې په تګی او چل
ول لاس پورې کړاو دې سیاست
ته یې به ارامی سره رخنه پیدا
کول وویل ، که څه هم برنګیان
له نن څخه اتیا کاله د مخه به
دې ظاهرا موفق شول چه د کندمك
معاهده پر پښتنو وتپی او له هغوی
څخه واکمتی واخلی .. خو پنځه

میاشتې وروسته پښتنو په ډېری
مېړانې او همت ددی معاهدی
په ضد قیام وکړ . دې قیام مغرور
انګلیس په ځان کړ او د سر
نشه یې ورو الوزوله او په
دې فکر یې کړ چه هغه رویه
چه له نو رو مستعمراتو سره یې
را اخیستی وه ، ترك کړی .
مجبور شول چه برنګیان زمونږ
خاوره بریږدې او دپښتو شرلو
او د دوی د ګ ملی سلطې دلېرې
کولو له وړی داخلی آزادی
ومنی او بوازی خارجی استقلال
په خپل لاس کښې غنیمت وګڼی ،
خو څلو پښت کاله وروسته
په ۱۹۱۹ کښې پښتون ولس
دا فیصله وکړه چه دنړۍ له
دپرزور وری امپراتوری څخه
دمټ په زور خپل استقلال خپل
کړی . اول خو یې په آرامی
سره مرکه او جرګه ورواپېزله
او برنګیان یې د ښه ویلل
چه د پښتون قام فیصله ومنی .
مګر مغرور او دلوی جنګ فاتح
انګریزانو چېر ته دا منله چه
انګریزانو چه غښتلی او پیاوړی

(پاته په اخرنی پشتی کښې)

زمونږ اوه صدراعظم شاغلی محمد داؤد چه دده پا صدارت کښې د استقلال پایه وار پا وار ټینګیږی
او افغانستان په بین المللی میدان کښې لوړ مقام ته رسیږی

ښاغلی محمدرحیم الهام له مونږ سره وعده کړی ده چه لدې وروسته به د تطبیقی ادب ترعنوان لاندی ترجمی یا څېړنی دمضمون به شکل را کوی ښاغلی الهام به ممکن زمونږ زیاتره لوستوونکی نه پیژنی .

الهام دادبیاتو دپوهنځی لیسانسه اواوس به همغه پوهنځی کښی دپوهیالی په درجه ښوونکی دی .

نوموړی په پښتو او فارسی کښی شعرونه وائی په فلالوژی اوادبیاتو کښی ښه وار ددی تصوف او فلسفی سره هم شوق لری . مینه لری کابل مجله دده له قلمی مرستو څخه سرله اوسه ورته کوروداني وائی او د موفقیت او بری دعا ورته کوی . (اداره)

ه ج . ب . د تطبیقی ادب له کتاب څخه

ژباړونکی : الهام

لمړی خبرې

کله کله مو زړونو کښی دا کړځی چه هغه کتابونه چه موغوره کړی او ساتلی یا لوستلی وی سره پرتله او مقایسه کړی مثلا ددوو کتابونو د صحنو او موضوعاتو دشباهت او بور از والی په باب چرت او سوداوهی او په دې خبره باندې دپوهیدو او ارمان لری چه ولی دیوه لیکوال سبک او ډول موستو مانه کوی او دهایل داموخو ښیږی ؟ کله چه په دغه راز څېړنو او کتنو لګیا او بوخت او سی د کنجکاوی یو بل نوی شانته احساس در کښی پیدا کیږی : ددی کتابونو مأخذ او منبع کوم او چېری دی د کوم مقصد دپاره لیکل شوی

ښاغلی الهام

اود پیدا کیدو او خپریدو له مهاله بیا تر اوسه پوری له کومو حادثو او څه راز پېښو سره مخامخ شوی دی ؟ ستاسی دستاینی وړ او په زړه پوری لیکوال د کومو صفاتو او څرنګه مشخصاتو خاوندان دی ؟ دمدیر آثار لیکلی او که یوازی دیو شاهکار دابتکار او ابداع په وجه ئې دومره لوی نوم او شهرت موندلی دی ؟

دده دهاء او نبوغ دڅه راز شرایطو او عواملو دا غیزو سره ښکاره شوی دی او د کمال او مختګ پړاوونه ئې په څه شکل هڅه کړی ده ؟ دخپلو همزولو او معاصرینو سره ئې څرنګه اړیکی او مناسبات لرل او دده د زمانی اجتماعی اوضاع او حالات څنګه ؤ

وروسته بیا هڅه او کوښښ کوی ء
چه خپلو دغو کتنو او څېړنو ته
د ترتیب او سمون کالی
ورواغوندی ء تصنیف او دسته بندی
ئې کړی ء نتیجه ورڅخه واخلی
او دیوه لیکوال یوه ادبی مکتب
او په پای کښی د یوې ټولنی
دادبیاتو په باب کښی یوه کلی
نظریه او قانع کوونکی فکر
ځانته پیدا کړی ء اوس که کوم
کتاب چه پخوا مو په بی حوصلکۍ
او بی توجهۍ لوستلی وی ، بیا
ولولی ء نورې نوی او باریکی
نکتی په کښی مومی ء ، او د کتاب
له کرښو سره دهغه لیکوال او
مبدع لاښه پیژنی ء ، او دهغه د زمانی
کرد چاپیر او هغو سنتونو او
رواجونو او عنعنو سره چه په
هغه وخت کې رعایت کېده
آشنا کیږی ء .

***

پدی کښی خو هیڅ شک
نشته چه یو هنری اثر ډیر لږ
واری مجرد او بی تاثیره وی .
کتاب هم د نقاشۍ د پردې ،
د مجسمې او د تنګ ټکور د سر
او انکازی په څیر د تیر شویو او
لرغونو آثارو څخه متاثر کیږی
او پر راتلونکو آثارو باندې
پدل او اغیزه لری .

دهرې ټولنی ادبیات د نورو
ملتونو پر ادب اغیزه کوی چه
که چیری د دوو بیلو ټولنو ادبیات
سره مقایسه او پرتله کړو د دوی
په ډیرو متقابلو اغیزو به پوه
شو . د فرانسې ټول منظوم آثار
او د دې هیواد د مثور آثارو
یوه زیاته برخه در نسانس او
دهغې په دوو وروستو پیړیو کښی
د لرغونی یونان او لاتین دادبیاتو
څخه ملهم شوی دی ، د فارسی
د منظوم ادب غوری برخی د عرب
دادبیاتو او د «دیدرو» ، «ولټر»
«ژانژاک روسو» او «مونتسیکو»
آثار د انګلیس دادبیاتو مرهون
او پور وړی دی .

کله چه د ادبیاتو مورخ
له دغو اغیزو سره مخامخ شی ،
نوې کار سختیږی . دغه اغیزې
دوې مشخصې خواوې او مرحلی
لری : لومړی د لرغونی یونان
لاتین ، عبری ادب او مقدسو
کتابونو څخه د تقلید او الهام
اخیستلو مرحله او دویمه
د ملتونو د نوی ادب تصادم یو
له بل سره اوس نو یوه داسی
وسیله لازمه ده چه دهغې په مرسته
د بېلو بېلو ټولنو او ملتونو
دادبیاتو د څېړنو نتیجی سره
راټولې کړو او وروسته له
طبقه بندی او پرتله کولو او یو
له بل سره آشنا کولو څخه ئی د یو
پراخ او عمومی ادب د عناصرو
او اجزاوو په سمون او تنظیم لاس
پورې کړو . د اوسیله چه له پخوا
مودو څخه موجوده وه او ډیرو
څېړونکو او پوهانو کار پکښې
کړی دی « تطبیقی ادبیات »
نومیږی .

که څه هم له هغه مهال څخه
چه تطبیقی ادب د یوه خلپواک
او مستقل علم عنوان غوره کړی
دی له نیمی پیړۍ نه زیاته موده
نه تیریږی ، خو بیا هم د اعلم له
ډیرو پخوا زمانو څخه موجود
او د همدغه فکر د وجود په وجه
وه چه « ګویته » د « جهانی او
دنیائی ادب » په باب کښی خبرې
کړی دی . ګویته به ویل چه هر
ادب د نورو ملتونو ادبیاتو ته
د توجه کولو احتیاج او اړتیا
لری . نو څرنګه چه د دغی اړتیا
احساس درو مانتیسم په دوره
کښی زیات شوه که د تطبیقی
ادب د څېړنو او پلټنو
شروع له دغې دورې څخه
وبو نو بی د لیله به نه وی ،

د اصطلاح لومړ دی «سنت بو»
(۱) له خوا استعمال شو. داروپا
دمنځنیو پېړیو ادبیات دمسیحیت
دمشترك دین او دلاتین دمشترکی
علمی او ادبی ژبی په وجه ډېر
سره نژدېوالی لری د انسانی
په دوره کښی هم، دهغې زمانې
مشابه افکار او د نویسندګۍ
ورته ډولونه ددغه عصر لیکوال
سره ډېر نژدې کوی. د اروپا
داتلسمې پېړۍ ادب د فرانسې
دفیلسوفانو او لیکوالو تراغیزې
لاندې یو راز حالت لاره. مګر
درو مانتیسم له ظهور سره سم
دلومړی ځل دپاره د ملتونو
دادبیاتو داړیکو دتینګولو داړتیا
احساس لاپسی زیات شو؛ او په
همدغه علت ددغې پېړۍ په پای
کښې ددغه راز څېړنو دپاره
علمي لیارې پرانستلی شوې.
د تطبیقی ادب په باب کښې
لومړی کتاب دانګلیسی «پوسنه»
نومی سړی (۱۸۸۶) اثرو؛ او په
همدغه کال کښی «ادوارد راډ»
(۳) په (ژنو) کښې د تطبیقی
ادبیاتو دتاریخ په تدریس لاس
پورې کړ. دا کوښښونه مخصوصاً
په نوسمی پېړۍ کښې وروسته
د نامتو مؤرخانو دپیدا کېدو
او دملتونو د ادبی تواریخو
له تألیف او تدوین څخه ښه منتظم
شو، او د (۱۸۸۶-۱۹۲۰) کلونو
په ترځ کښې دی علم خپل دتکوین
دوره وسپړله او د (۱۹۲۱) کال
څخه «پارل هازارد» دتطبیقی
ادب دمجلې او دهغې دور سره
مجموعې په خپرولو پیل وکړ.
اوس اوس داعلم دنړۍ په ګردو
پوهنتونو نو کښی زده کیږی؛
بین الاقوامی تشکیلات هم
دتطبیقی ادبیاتو د څېړنې
او دعمومی ادب دایجاد او تکوین
دپاره دمرستی لوی ګامونه
اخیستی دی. په ۱۸۹۴ کال کښی
«بازل ګټ» دیوې بین الاقوامی
هنری او ادبی مؤسسی بنسټ
کښېښود؛ او وروسته ډېرو نورو
پوهانو دده په دغه اقدام پسی
ګامونه واخیستل. ترڅو چه
دلیکوالو په بین الاقوامی کنګرو
کښی (مسکو ۱۹۳۴؛ پاریس
۱۹۳۵) هم د تطبیقی ادبیاتو
پر موضوع باندې خبرې
او ویناوې وشوې.
تطبیقی ادب دبین الاقوامی
دادبی تاریخ داړیکو څېړل دی
دتطبیقی ادب دڅېړونکی دنده
داده چه دمختلفو هیوادونو
او ملتونو دادبی آثارو داړیکو
څېړنه او دمضامینو، فکرونو
او احساساتو د تبادل نظارت
ددوویا زیاترو ادبیاتو په منځ
کښی وکړی، که دغه تعریف ته
په پراخ او عمومی نظرو ګورو
نو ددغو څېړنو سیمه او ساحه
په ختیز کښې د سانسکریت،
اوستایی، پښتو، فارسی، عربی،
چینی او نورو شرقی ملتونو
دادبیاتو داړیکو څېړنه ده؛
او په لوېدیز کی دیونان او لاتین
دادبیاتو داړیکو څېړنه او پرنوی
ادب باندی دلرغونو ادبیاتو
داغیزو څرکندول او ښودل؛
او دختیز او لوېدیز ادب دمتقابله
اغیز و پاټل؛ او په پای کښې
دملتونو دنوی او معاصر ادب
داړیکو څېړل او معلومول دی
چه دا وروستی مبحث تر ټولو
پراخ او غامض دی.
لومړی باید ځان پدې باندی
وپوهوو چه په پوی ټاکلی

او معینی دوری کښې دیوادب
حدود او هغه سرحدونه چه په
ماوراء کښې ئې دیر دي او اجنبی
ادب په باب کښې خبری د کړای شو
کوم دی ؟ که جغرافیایی
او سیاسی حدود په نظر کښې
ونیسو، ښایی چه ځواب یې
په آسانه پیدا شي؛ مګر د پرداسی
هیوادونه او ولسونه هم په نړۍ
کښې شته دی چه کلتور او ژبې یې
د سیاسی حدود و له سیمی
څخه د باندې ونلی او حتی
په ډیر و لیرو خواوو او مځکو
کښې خواره او عام شوی دی.
دا راز ادب او آثار د کوم
هیواد په ادبیاتو پوری نښلولای
شو؟ جرمنیان د سویس او اطریش
د ادبیاتو یوه برخه ګڼل کښی
او فرانسویانو په ډیرو او منل
شوو دلیلونو د ژان ژاك روسو
(متولد په ژنو کې) او «ورهارن»
(بلژیکی) آثار د فرانسی
د ادبیاتو اجزا ګڼی. همدغه راز
د افغانستان او پارس او د خدای
بښلی محمد اقبال لاهوری
او د تاجکستان فارسی آثار تول
دیوه ادب اجزا تشکیلوی،
د حدودو د تاکلو او تعیینولو
څخه وروسته یا بد هغو مؤثراتو
او عواملو ته یا ملرنه وشی چه
د ګاونډیو د هیوادونو په ادب
باندې بې مشترکې اغیزی کړی وی
. د دغه راز څیړنو د ښه سرته
رسولو د پاره باید چه بر سېره
بر بین الاقوامی ادبی اطلاعاتو
او د څو مختلفو ژبو پر پوهېدلو
دې د څېړو نکو سره لا ندنی
مطالعات موجود وی : په یوه
معینه زمانه کښې د کومو ملتونو
او ولسونو په منځ کښې سیاسی
دینی، اقتصادی او هنری اړیکی
څرنګه وی؟ د دغو راز راز اړیکو
عمده او مهم وسایل کوم شیان وو
لیکوالو، ناقدانو او خلکو د نورو
ملتونو د لرغونو او نوو ادبیاتو
او د دوی د ژبو، عادتونو
او رسمونو په باب کې څومره
معلومات لرل ؟ د تطبیقی ادب
له مشخصاتو څخه یو هغه
یاملرنه ده چه باید دیوې ژبې
او ادب د ریمو او دویمو درجه
لیکوالو او شاعرانو نه وشی او هغه
لیکوال او شاعران دی هم په نظر
کې ونیول شی چه د ادب تواریخ
ورڅخه په سطحی توګه تیر شوی
او یا یې بیخی هیر کړی وی.
د پردو هیوادو او خلکو د پیژندلو
د پاره دوه مهمې وسیلې موجودې
دی، چه لومړی د وسیله یې
«کتابونه» او دو همه یې
«سړی» دی. په تطبیقی
ادب کښې له دغو دواړو
وسلو څخه کار اخستل
کیږی :

۱ - کتابونه : د هر لیکوال
آثار او هغه نور کتابونه چه
د دغو آثارو په باب کښې نورو
خلکو لیکلی وی د څېړنې لومړنی
منابع او مسالې دی. ترهغه
وروسته، بیا د جغرافیایی او
تاریخی کتابونو سفرنامو
راز راز قاموسونو او د ژب پوهنې
د څېړنو وارد سیږی. دا کتابونه
ترڅو چه ممکن وی، باید په
اصلی او لومړنی متنونو کښې
وڅیړل شی او پر ترجمو باندې
دی زیاد اعتماد او اطمینان
ونشی.

۲ - سړی: یوازی د کتابونو
پر څېړنو او کتنو باندی قناعت
کافی نه دی. البته ځینی آثار
مشترك او عمومی عقاید را

ځر ګندوی، خو دولترد «انګلیسی لیکونی» دځېړنې د پاره نشو کولای چه دولتر د ژوند پېښو دځرنګوالی څخه په انګلستان کښې اوده داطلاعاتو څخه دانګلستان دژبې، خلکو، او آدابو په باب کښې ناخبره اوسو په داسې مرحلو کښې دتطبیقي ادبیاتو څېړونکی دبو «بایو ګراف» حیثیت غوره کوی اوده لره بنابې چه د مترجم دامانت او دکره کوونکی (ناقد) دذکاوت او دسفر نامې دلیکوال درښتیا ویلو څخه اطمینان حاصل کړی نو ځکه دتطبیقي ادبیاتو څېړونکي باید په ادبي اطلاعاتو ژب پوهنې، تاریخ او .... کښې ژوري کتنې او پوره تبحر واري راز راز ژبې ئې په ښه توګه زده وی او مخصوصاً منا بعوته دمراجعې په فن او اصول ښه پوه وی (۱).

(۱) دتطبیقي ادب دځېړنو دپاره مهم ماخذ دادی:
دملتونو د ادبیاتو تواریخ، دادبي آثارو فهرستونه، تذکرې، دحالاتو ترجمې، د تطبیقي ادبیاتو مخصوص فهرستونه چه په اروپایي ژبو کښې یې شمېر روڅ په روڅ زیاتیږی؛

ځرنګه چه دبوه سړی له توانه څخه دتولو پورتنیو خصوصیاتو او مشخصاتو لرل بهر ښکاری نو دکار تقسیم او ویش خبره منځ ته راځی. مثلاً ځینې ځېړونکی یوازې د پښتو او فارسي، دانګلیسي او فرانسوی، یا ".... دابي اریکو په ځېړنو او ښکاره کولو لګیا کیږی یا مثلاً داروپا د اتلسمې پېړی یا درنسانس ددورې دادبیاتو په باب کې کار کوی.

کله کله دتطبیقي ادبیاتو ځېړنه یوازې داغېزو او تأثیراتو پر ځرګندولو محدودیږی دا تأثیرات او غېزې عبارت دی د «ادبي قالبونو او انواعو» «مضمونونو تیپونو، کسو» او «فکرونو او احساساتو» څخه او کله له بلې خوا دځېړنې غایه او هدف دیو ادبي اثر د پیدایښت طرز او دهغو دسرنوشت ښودول وی چه پدې صورت باید د هغه اثر «منابع» واټول شی او بیا دې دسرګذشت تعقیب په زمان او مکان کښې وشی.

مونږ د څو لنډو خبرو او بحثونو په تړلو کښې د تطبیقي ادبیاتو څېړنې «متود» ګرانو لوستونکو ته ښیو.

۱ـ ادبي انواع

که کله د کوم سړی د معرفي کولو کسدولری نوبې لومړی په قیافه او د ظاهري جوړښت په ځرګندولو باندې پیل کوی کتاب هم دانسان په څېر دی؛ او د محتویاتو تر څېړنې څخه یې رومبې باید شکل او قالب په نظر کښې ونیول شی.

نو ځکه د تطبیقي ادب څېړونکی مجبوردی چه لومړی دلیکوال هغه خاص قالب او «فورم» معرفي کړی چه یې دخپل اثر دلیکلو دپاره غوره کړی وی او دې ګوری چه آیا هغه قالب ته یې کوم نوی ابتکاری رنګ او کیف هم ورکړی دی که یه؟ او که ممکن وی دده دابتکاری بر خو الهامي علتونه دی هم وښیی. دا خیال دې باید چا سره نه وی چه قالب او فورم هومره ډېر اهمیت او ارزښت لري؛ ځکه چه همدغه نوع او قالب یا همدغه

دفکر دبیانولو طرز او لارة
داحساساتو دپارولو لوی اومهم
عامل دی . دهغو کسانو دپاره
چه یوازی دمعاصر ادب سره
علاقه لری دادبی انواعوشمېرل
داشباحو دیورسم گذشت څخه
پرته کوم بل اهمیت نلری
دتطبیقی ادب څېړونکی دی باید
په دې دلیل له هغه څخه صرف
نظر ونکړی . دی دې باید
وگوری چه پلانکی لیکوال
خپل اقتباسي قالب او فورم ته
څه راز تغییرات اوښتني ورپه
برخه کړی اود خپلو افکارو
او احساساتو دبیانولو دپاره یی
چمتواو مستعد کړی دی . ددغه
قالب غوره کول دده له شخصیت
سره څه اړیکی لری ؟

په تاریخی دورو کښې ، په
تېره بیا درانسانس له دورې څخه
وروسته دځینو میراثی « نجیبو »
قالبونو اوفردی ابتکاری انواعو
په منځ کښې اوږدې اوسختې
نښتی اوجګړی روانې شوی
دی او همدی موضوع دځینو
لیکوالو لکه مولېر . کرنې او
لافونتین دپاره ډېرې سختۍ
اوربړونه پیدا کړی دی .

دماشومانو او کمکیو په شان
دلویانو او مشرانو هم کسې او
افسانې خوښیږی دادبی قالبونو
چینه او منبع هم همدغه راز
فطری تمایلات دی . په هماغه
شان چه رودونه لږلږ د دروله
سینو او زړونو څخه راوزی او
خپل بستر ورو ورو ځانته
جوړوی کټ مټ همدغه راز
ادبی قالبونو هم په پېړیو پېړیو
کښې عملاً پیدا کیږی اودزمانې له
لیون اوبدلون سره یی شکلونه اوړی
او باطنی او ظاهری جوړښت
او څېرې یی د کمال خواته مخ
په ښه کېدو او پخېدو درومی
هماغه « حماسی » قالب دی
چه « رومان » وز څخه زېږېدلی
اوهماغه غنایی فورم دی چه
دنوی اشعارو مور بلله کیږی
دتاریخ ، کومیدی ، تراژدی .
غندنې او ستاینی حال هم په
همدغه څیر دی اودو گړو دفطری
او طبیعی تمایلاتو اوهیلو څخه
میدان ته راوتلی . شکلونه یی
اوښتی او کمال یی موندلی دی .

دنثرقالبونه :

دنثر دقالبونو او انواعو
ارزښت او اهمیت هیڅکله دنظم
دانواعو له ارزښت سره برابری
نده کړی ؛ او ځینو . حتی چه
ډېر زاړه او لرغونی وو په
بین المللی ادبیاتو کښې هیڅ
اغیزه او بدل ندی غورځولی ؛
خو بیا کولای نشو چه د دوی
له اهمیت څخه په ځغرده انکار
وکړو ،

دنثر په قالبونو کښې تاریخ
لیك ، دیالوگ (۱) چه ډېر
لرغونی دی او د فلسفی څېړنو
اومباحثاتو دبیان دپاره غوره
شوی ؤ او په نوی دوره کښې هم
دافلاطون دپیروانو او نورو له
خوا استعمالیده او « مقالې »
(۲) چه ددیالوگ په شان
دافکارو دبیان اوڅرگندولو
دپاره یو ډېر مهم قالب بلل
کیږی ، ډېر جالب اودپاملرنې
وړدی : هغه مشترك فکرونه چه
د « دیالوگ » مقالو . حکمی
رسالو شبنامو او وینا وو
(خطابو) په قالب کښې بیان
شوی دارو ېدونکو پرار واحو

---

(۱) Dialogue
(۲) esssay

باندی یی سختې او مختلفې اغیزې کړې دې چه که وغواړو ددغو مختلفو قالبونو داغیزو څخه په خپلو څېړنو کښې سترګی پټی کړو داسې به وی چه دادب غوښې ورڅخه بېلی اوجلا کړو او یوازې یی دهډو کو او اسکلیټ په باب خبرې وکړو.

خارق العاده سیاحتونه»

(۱) یوبل خاص قالب دی چه داولسمې پېړۍ نه ئې راپدیخوا اهمیت موندلی، او د «سېرانو دوبرژداك» (۲) څخه و «سویفت» (۳) او بیا «ولتر» ته میراث پاته شوی دی. همدغه راز ناول، چه مخترع ئې ایتالیائې «بوکاچیو» دی او ترده وروسته ئې په ګرده نړۍ کښې عموم ملیت پیدا کړ، او اوس دلنډو کسو په شکل دادبی انواعو ډېر مهم نوع شمېرل کیږی او درومان پخوانۍ مرتبه او مقام لری،

یوبل قالب «خیالی کسې» دی چه پدې باب کښې مخصوصاً دهوفمان د کسو داغیزو او دا د کارپو دموفیت دعلتونو او منابعو په باب کښې ژوری څېړنې شوی دی.

هغه قالب چه زیاتره ئې دمعاصرینو توجه جلبه کړې او په عین حال کښې غیر محدود پاتې شوی دی «رومان» دی. دتطبیق ادبیاتو څېړونکی دژان ژاك روسو د «نوی هیلوئیز» (٤) او دګویته د «ورتر» د کتابونو د اغیزو په باب کښې چه پرنورو رومان لیکونکو باندی ئې کړی دی ډېری ژوری څېړنی کړی دی. هغه رومانونه چه دخطونو او لیکونو په شکل لیکل کیږی «٥» هم ځانته قالب لری او درومان سره یو ځای پیدا شوی او د هغه په تکمیل کښې لویه برخه لری.

ددغو قالبونو په مقابل کې یوبل قالب د «ریالیست» رومان په نوم ځان ښکاره کوی ریالیست رومان چه ډېر قسمونه لری او یونوی ادبی فورم دی په دوو ووستیو پېړیو کې د نثر یو ډېر مهم شکل بلل شوی دی.

درومان یوبل شکل او ډول «ډارو ونکی رومان» «٦» یا «تور رومان» دی. په داسې رومانونو کې دزړو او تاریخی مانیو، هدېرو او اشباحو او د کوهیو داسرار آمیز واومرموزو اتلانو کښې او مرګز شتونه بیانیږی او تر ډېرو مو دو پوری خور اډیر لوستونکی او غوښتونکی لرل.

درومان سیمه اولمن ډېره پراخه ده او راز راز ډولونه لری چه ځینی ئې له پخوا زمانو څخه پاتی شوی او ځینی ې هم اوس ابداع شوی دی او تاریخی، فلسفی، او حیاتی او عادا تو رومانونه هم پکښې شامل دی،

دشعر انواع :ـ

دشعر هغه پخوانی ډولونه چه له لرغونو زمانو څخه پاتې شوی دی تو داستعدادونونه ئې دنوو شکلونو او ډولونو داختراع او ابتداع الهامونه ورکړی دی.

وصفی شعر په یونان او روم کښې حماسی شکل لاره. داروپا دشپاړسمی پېړۍ حماسی شاعرانو بیاتر او لسمې پېړۍ پوری دا ډول له «هومر» او «ویرژیل»

څخه و اخیستل . سره له دې
ددغو زمانو حماسه ویونکو به
یو له بل څخه هم تقلید کاوه .
خپلواك بیت المقدس

دتاس اثر په تو له اروپا کې
له مجارستانه څخه نیولی بیا
تر پورتګال او سویدنه پوری
دپاملرنی او تقلید یو وړ اثر
وګڼل شو . همدا راز دستر
شاعر «آریوست» قهرمانی
منظمه او د «دانتې» د «خدایی
کومیدی» بې ساری حماسه
د خپلی زمانی او وروستیو
پیړیو پر ادب باندی خوراژوری
اغېزی کړیدی .

هغو منظومو چه به د پوهنی،
علمی مطلبونو، نصیحتونو او
پندونو د خپرولو د پاره
ویلې کیدلې او لسمی او اتلسمی
پیړۍ کې د شاعرانو توجه
ځانته جلبه کړه . د دغه راز شونو
سره په یو ځای نور شوی ډولونه
لکه : غندنه ، فابل او نور هم
موجود و .

په نو نسمې پېړۍ کې یو بل
شعری ډول د ګویتی د «فاوست»
سره یو ځای میدان ته راووت
چه بین المللی اغیزی ئې لرلی
مانفرد د «بایرون» اثر او
«خپلواکه شوی برومته»
د «شیلی» اثر داسی نظمونه دی
چه اګر که د نندارلیك شکل
لری خو په نندارځی کې د ښوولو
د پاره نه دی لیکل شوی . په دی
ډول کې د ننی عصر د انسانان
غوښتنی او دده سرګردانی او
لیوالتیا د طبیعت د رمزونو،
سرنوشت، مینې او خوشالتیا
په مقابل کې مجسم شوی دی .
دا هماغه ډول دی چه رومانتیکانو
په زیرکی سره اقتباس کړ او
وروسته له څه بدلون څخه یې
د رومانتیسم د دوری د ادبیاتو
پانګه تشکیله کړه .

د نندارلیك ډولونه : -

د نندارلیك [تاتر] ډول
تر نورو ډولونو خو را زیات
بدلون لېدلی دی کلا لیك تراژیدیو
له دروپېړیونه په زیاته موده کې
د یورپ په نندارځیو کې حکومت
کاوه . د کرنی او راسیو د نندار
لیکونو د هغو اغیزو په باب چه
یې په انګلستان باندی کړی؛
او د «دولتر» د نندارلیکونو
داړیکو په باب د انګلستان له
نندارلیکونو سره ؛ او همدا
راز د فرانسی د تراژیدی
د اغیزو په باب په ایتالیا او لهستان
کې څېړنې شوی دی . البته چه
دغه ډول مختلفو هیوادونو کې
د مختلفو فکرونو او محیطونو
تر اغیزو لاندی څه بدلون موندی،
د مقید تراژیدی (۱) څخه یې

---

(۱) په دغو وختونو کې د تراژیدی
د پاره ځینی درسی قوانین او اصول
موجود وه چه سرغړول ور څخه جائز نه و .
مثلاً تراژیدی نندارلیك به معمولاً
د کوم قهرمان په مرګ ختمېده .
د نندارلیك شخصیتونه به د اشرافو او
نجیبو له ډلې څخه انتخابېدل، او
له ټولو څخه مهم د «درې ګونو وحد
تونو» د مراعات موضوع وه . درې
ګونی وحدتونه چه لومړۍ پلادار
سطو د شعر د فن په کتاب کې یې بیا
راغلی وی، داو : -

الف : د مکان وحدت - یعنی
نندارلیك باید په هغو مره ځای او
مکان کې وښوول شی چه د نندارلیك
د پېښود پېښېدو د پاره لازم وی .

ب : د زمان وحدت - یعنی نندار
لیك په هغو مره وخت کې په نندارځی
وښوول شی چه پېښې ئې په خارجی
نړۍ کښې پېښېږی .

ج : د عمل وحدت - یعنی باید
نندارلیك د یو داسې کمال او جامعیت
خاوند وی چه د هغه د یوی برخی حذف
او هیسته کول بی لدی چه د هغه کلی
وحدت ته کوم خلل پېښ شی ممکن
نه وی .

د «آزاد ډرام» په لوري گامونه اخيستي دي، دغه انتقال داسپانيول د «لوپ دو وگا» کوميدي او د شکسپير د شاهکارو له څېړني او مطالعې څخه ښه څرگندېږي.

دغو دوو مشهورو ډراماتيک ښوونځو چه تقريباً سره معاصر او په پراخوالي او تنوع کښې بې سره شباهت لاره، نژدې سل کاله په گرده اروپا کې اغېزه لرله. اسپانيول د نندار ليکو د اصل او د طلائي دورې په باب کښې او د هغو اغېزې په فرانسې، او المان کښې او د شکسپير د هغو تاثيرونو په باب چه پر نورو هيوادانو باندې يې غور ځولي د موضوعاتو شخصيتونو، احساساتو، حتي چه دغه نامتونا بغې دغني او پوخ سبک په باب کښې چه نورو نندار ليکوالو اقتباس او تقليدور څخه کړي دي ځينې څېړنې شوي دي د تراژيدي درام او کوميدي سره يو ځای نور ډولونه هم پخوا موجود وچه د وروسته له يوې ځلاندې دورې څخه بې خپل رواج له لاسه ور کړي دي؛ لکه: په اولسمه پېړۍ کې (تراژيدي کوميدي) وربسي (د کليوالي درام) او بيا (کوميدي پورژوا) چه به هر يو په بېلو بېلو هيوادونو کښې اغېزې لرلي او مخصوص سرگذشتونه يې ليدلي و.

له دغو ټولو سرگذشتونو او ژوند پېښو څخه د کوميدي، بين المللي ژوند پېښه ډېره مفصله او په زړه پوري دي. د ايتاليا د کوميدۍ اغېزه د اسپانيول د طلائي پېړۍ پر نندار ليک او د فرانسې پر کوميدي باندې. او همدا راز د فرانسې د تراونامتو نندار ليکوال «مولير» اغېزې د نورو او لسونو پر نندار ليکونو باندې له هغو ښو موضوعاتو څخه دي چه تر اوسه پورې ئې د تطبيقي ادبياتو توجه ځانته جلبه کړې ده.

دگران هیواد دخپلواکۍ

دڅلویښتمی کالیزی له مناظر وڅخه



پورتنی عکس کښی دمحکوم پښتونستان دپیښور دعلاقی اوشاؤخوا ځایو درانده پښتانه لیدل کیږی. دا هغه محترم پښتانه دی چه دزړه په شوق اومینه د افغانستان دخپلواکۍ دڅلویښتمی کالیزی په هغه لویه میلمستیا کښی چه دسږ کال دجوزا په شپږمه په پیښور کښی زمونږ دجنرال کونسل ښاغلی غلام حسن سابی له خواشوی وه ' ګډون کړی وو .

وموبښیء

ددې ګڼی زیاتره مضمونونه دگران هیواد داستقلال در ناوی دپاره وقف شوی دی نو ځکه د کتاب برخه او دننني چین ادب دوهمه برخه راتلونکی ګڼی ته و ځنډول شول .

[اداره]

خپلواک ژوند

دادی اوس بیاددې هیواد دشاه زلمیانو دپاکو اوتودو و ینو د یادو لو تلین وخت راغی اولکه څنګه چه دپښتون تبرعادت لری چه داحسان اونیکۍ به مقابل کښې د یر یادوونکی دی، نوپه پاکه عقیده اودزړه له کومی نمانځنه دوطن د آزادۍ دلیاری دشهیدانو یادونه کوی اودهغوی درنو ارواحوته درانه سلامونه لیږی او لاس په نامه دآزادۍ دمعرکی دسردار مزار ته دریږی، او هغوی ته چه تراوسه لادهیواد د و ګرویه مینځ کښې ګرځی اوژوند کوی په ډیره مینه لاسونه نیسی او د الویه فتحه چه هغوی دپښتانه ناموس دساتلو اوسرلوړی لپاره دخپل ځان اومالونو وقفولو اودیروشاه زلمیانو دوینو په تویولو کړی ده هغوی ته مبارکی وائی.

موجوده نسل هم دوطن دهغو زلمیانو اوسردارانو قربانې چه دهیواد دآزادولو په لیار کښې ئی ورکړی ده په در نه ستر که ګوری اوددی لوی نعمت پوره نمانځنه کوی پښتون قوم نن په دې خبری پوره پوهیدلی دی چه هغه څه چه الجزائر ئی نن دحاصلولو اوپیدا کولو په لیار کښې وینی تویوی اندونیزیا هنداو تونس اونورو لږ څه مخکښې په دې لیاره کښې قربانی ورکړی ـ ددوی پلرونو خلو پښت کاله مخکښې هغه وخت چه داستعمار تندسیلاب ددوی په لراوبره راواوښت دخپل سر اومال په زیانونو اودوی ته دهغه څه یعنی دیوبا افتخاره ژوند دپر ښودلو لپاره مجاهدی کړی وی او دخدای په فضل اویاخه تدبیر په مرسته هغه مجاهدی هم بې څه نه شوې اودادی نن مونږ هم دهغوی دخدمتونو قدردانی کړواوددنیا دآزادوملتونو په صف کښې سر لوړی دریږو.

● مونږ آزادیو او آزادبه اوسو:

ددی هیواد دلوړوغرونو په پیچ اوخم کښې چه نظر اواړه کیږی اسارت او مخنیونه هره لحظه امکان مرمي اخودی قوم ته طبیعت ورښودلی تا کتیك دو مری تطبیقی دی چه هره ګړی دهر نوی بیش آمد په مقابل کښې یونوی طرز عمل او نوی لیاره پیدا کول دهغوی شعار دی.

ددی لوړواوژورو ـ کندو او کپرو سیر داسی دشی کیدای چه تر لاسونو سره ونیسی اوحتي کله کله دآزاد حرکت په نسبت لادو مری سره لیری هم شي چه یو دبل خبری

نه اوری خودا بعددانفرادی ژوند او ځان ځانی مفهوم نه لری دا ځکه چه لږ څه لیاره وروسته بیا یو بل ته نژدی کیږی او د (ته څه شوی) په خطاب یو بل خبروی .

نو مونږ دهیواد داعنعنوی صفت چه یو او دبل حال اخستل او یو له بل سره مرسته کول انسانی او پښتنی وجیبی کښی مو نږ تل آزاد ساتی

پښتون هر څه منی خو اسارت نشی منلای

یوه پښتانه ته له دی څخه لویه جزاء او سخت عذاب نشته چه اسیر وی او یا حس کړی چه دخپل اختیار نه دی او باید دنورو دذوق په مقتضی وږغیږی .

دا کیږی او شوی دی چه پښتون اسیر شی خو دهغه جوته علت یاد پښتانه دهغه وخت ناتوانی وه او یا خودا اسارت داسی اسارت وه چه خوار او ساده پښتون هیڅ نه ور باندی پوهیدی چه دی اسیر دی او ده دا خیال کا وه چه دازما هغه غم شریکی ده چه مادیته مجبور وی چه باید دنورو په خوله کار و کړم او دهغوی کم طاقتی ده چه لازما همکاری ته اړوی.

خو څنګه چه و پوهیدی چه دده خدمتونه نورو بل ډول تعبیر کړیدی او یا خو اسیر دی نو هغه ئی کړی دی چه دبالاحصار واقعه ئی په وجود راوړه او داستثمارچی او استعمارچی حواس ئی دو مری خراب کړه چه په خپله ئی په او ر کښی ځان سوزولو ته د پښتانه لاس ته وروستلو څخه ترجیح ور کړی ده،

پښتون دخپل فطری ذکاوت په مرسته خپل موقف دنړی دنورو دولتونو په مینځ کښی ښه پیژنی او دځان جوړولو ضرورت ته ملتفت دی

پښتنو ته خدای پاك داصفت ور کړی دی چه تل دخپلو حقوقو د ساتلو په لیار کښی لکه لیونی ځان اورته واچوی خو هیڅ کله دنور و پر حقوقو یرغل روانه بولی او تل ئی دمتقابل نیت پیروی کړیده دهمدی استعداد په مرسته دننني بحرانی نړی په نبض ډیر ښه پوه شوی دی او له خپلی ازادی څخه داسی استفاده نه کوی چه ګوندی دجهان دامنیت په مخالف به وی او یا خو به دچا پر حقوقو بې موجبه و رودانګی خو په دی هم پوهیدلی دی چه دځان سانته په یو والی او زړه سوی کښی ده نو په تلوار دد غو اړتیاؤ و پوره کولو لپاره لګیاوی او دمظلومو قومونو څخه خپله اخلاقی مرسته نه سپموی .(پای)

* * * * * * * *

مترجم: رحمت الله نظری

دشیلی منتخبه اشعارو د کتاب څخه

دشیلی لنډه پیژندنه

پرسی بایسشی شیلی د آگست پرڅلورمه په (۱۷۹۲) کال کښی د (ساسیك) دښار په (فیلډپلس) کښی دنیا ته راغلی دی. او دسردار (تی موتی شیلی) مشرزوی دی شیلی تر ۷ یا ۸ کلو پوری دخپلو خویندو سره په لوبو او تعلیم بخت ؤ څرنگه چه نور نارینه ملگری ئی نه لرل نو دوړ کتوب دلوبو څخه ئی دیره مزه مزه نده اخیستی ددغه سببه ئی د بیکاری او چټی لوبو څخه نجات موندلی دی او بر عکس په داسی اعمالو مشغول شویدی چه دده دراتلو نگی ژوند شهرت او ښیگړی ئی زیاتی کړیدی،

دده لمړی ښو ونځی په برینت فورډ کښی (ساین هاور) ؤ چه په ۱۳ کلنی کښی له هغه بریالی او په (اتین) کښی شامل شو ددی ځای دبریالیتوب څخه وروسته په (۱۸۱۰) کښی د اکسفورډ لوی پوهنځی کښی شامل شو.

دمخه تر هغه چه شیلی اکسفورډ کښی شامل شو دده ناولونه ئی نشر کړه چه زیات شهرت ئی پیدا نکړی مگر په اکسفورډ کښی دده هوښیاری ابتکار او طبیعی استعداد دبریښنا په څیرو ځلیدی دشیلی لوبی داوی چه همیشه به ئی ښکاری تماچی د ځان سره گرزولی او په لاؤ کښی به ئی مخصوص نښانونه ویشتل یا به دډنډ پرغاړه ؤ لاړو او د بری به یی غورځولی چه په او بو کښی چکی وباسی ډیر ځله به ئی د کاغذ بیړی په او بو کښی خوشی کولی اولداسی تماشو څخه به ئی خوند او حظ اخیست دغوبی آزاره لوبو ډیر زر دده فکر ته انتقادی انکشاف او وسعت ورکړ،

که څه هم تر اوسه لاوخت مساعد نه واود فرانسی انقلاب نور ډیر قوی پوهان چه تر شیلی ئی متین فکر و نه لرل نا امید پاته کړی وو، خو بیا هم شیلی دافراطی بی دینی په مقابل کښی چمبه ور کړه او یوه رساله ئی د (وحدت الوجود ته ضرورت) په نامه خپره کړه چه له دی کبله دډیرو بدبختیو او مشکلاتو سره مخامخ شو. دهمدغه کار په نتیجه کښی شیلی دخپل نژدی ملگری (هاگ) سره دا کسفورډ د پوهنځی څخه خارج او دواړه ددرس څخه محروم پاتی شوه، دفاکولتی په آخرو کلو کښی شیلی یو خندنی د نظم مجموعه نشر کړیده چه (دمار گریت نیکولسن ملکی کارونه) په نامه یادیږی.

شیلی ۱۷ کلن ؤ چه دفاکولتی څخه خارج شو له بده مرغه دده دتره لور چه دده گرانه محبوبه وه دبل چا میرمن شوه. دا پېغله دده سره په یوه ورځ دنیا ته راغلی وه او دهغی محبت دلمړی ورځی دده په زړه کښی ځای نیولی ؤ دادخاړ جیدلو لمړی بده نتیجه وه چه دشیلی پرژوند او روحیاتو ئی

ئې بد . اغیزه و کړه . غم
ناامیدی او حسرت ورځ په ورځ
دده پرافکارو غلبه کوله چه په
پای کښې ئې دخپلې کورنۍ
په مقابل کښې زیات تمرداوبی
احترامی ښکاره کړه. پلار ئې
ځنی خوابدی شوی و مګر
وروسته ئې دا قبوله
کړه چه تردغه ګناه به ور بخښی
او په دې شرط به دی و بخینی کړ
چه شیلی بیرته خپل کورته راشی
او دیوه خصوصی ښوونکی په مرسته
خپل مطالعات او زده کړه پای
ته ورسوی او دوهم شرط دادی
چه دخپل ملګری « هاګ »
دوستی پر ېږدی مګر څنګه چه
دشیلی عمر اوم او بی تجربیې ؤ
دپلار داشرائط ئې ونه منل او
په لندن کښې پاتی شو . بیاهم
پلار دخوابدی پحال کښې د
کال « ۲۰۰ طلائي پونډه » ورلیږل
دادغمګینی او جدائی دوره اوږده
شوه دشیلې دخویندو همدردی
غم او خوخوږی تحریك شوه نو
ډېر قیمتی جواهر او سوغاتونه ئې
دیوی نجلې پلاس ده ته
ورولیږل . دانجلی « هیرت
ویسټ بروک » د ده دخویند و
دښوونځی ملګری وه چه تردوی
په کام کښته او دیوه میفروش
لوروه . شیجلی داپیغله دځان
سره وګرزوله او هغی ته ئې دخپل
فکر اساسات ور شروع کړه .
پیغله دتیز فکر اوښه ذهنیت
خاونده شوه

دا ښکلی پیغله دپلار دظلم
او سخت سلوك څخه ډیره پعذاب
وه ځکه ئې ځان ؤ شیلی ته درهنمائی
او نجات دپاره و سپاره . شیلې
دمینی ډك زړه هغی ته نژدی کړ
او د محبت په غیږ کښې ئې
ونیوله او ددی زړه وړونکی نجلی
سره ئې واده وکړ .

تردغه وروسته ئې یوسیاسی ،
ادبی او د خند اډك نظم چه
« دمارلو زاهد » نومیږی ،
خپور کړ چه دشهزادګی شارلوست
مړینی په مناسبت لیکل
دی شوی. شیلی پدغه مرثیه کښې
دمانم په لباس کښې دآزادی
پایمالیدلو ته اشاری کړیدی.
لږ روسته یوی شخصی نشراتی
موسسی یو بل. اوږد نظم چه د
(موب ملکه) نومیږی نشر کړ.
دامنظومه تراوسه دده په اشعارو
کښې ستر ځای لري. مګر دده
دوهمی ماندینې داسی اقرار
کړیدې چه شیلی دپورته نظم
څخه چندانی خط ندی اخیستی
او نه هغه دده پواسطه نشر شویدی
بلکه داشعر دیوی ادبی غلا په
ټوګه خپور شویدی. دشیلی په
قضاوت دده په تولو شعرو کښې
بهترین او دبقاوړ شعر (ددنیا شیطان
دی .

دزمانی جفا او دشیلی بدبختی
ده چه دده لمړی واده ناخوښه
واقع شو. په (۱۸۰٤) کښې ئې
خپله ګرانه ماندینه (هیرت)
خوشی کړه چه وروسته تردغه
طلاق ئې یو بل زوی هم پیدا شو
دیوی بلی ښځی (ماری
ګاډوین) سره ئې دوستی شروع
کړه او دهغی سره دایتالیا خوانه
وخوځید د انجلۍ دیو مشهور
لیګونکی او پوهی ښځی لور وه
چه ددړوړو دنظریاتو په میانځ
کښې تملیک موافقت پیدا شوی و.
شیلی که څه هم خپله لمړۍ
ښځه پریښود له بیاهم دپاکی مینی
احساسات او ښه تمایلات ئې دهغی
خوا ته لرل تردی اندازی چه
دهغی څخه ئې خواهش وکړ چه

دده دوهمی ماندینی سره په یوه سرای کښې هستو ګنه وکړی.

مګر دده دغه پیشنهاد دیوه حقوقی مشاور له خوا څخه مسترد او غیر شرعی وبلل وشو دوه کاله وروسته «هیرت» خپل ځان غرق کړی او دجهان دبدبختیو څخه ئی ستر ګی پټی کړی ددی نامرادی تر مرګ وروسته شیلی وغوښته چه خپل کچنیان دځان سره وساتي- مګر دوړو کونیکه پر هغه تینګ شو- دیوی قضائی محکمی په امر کچنیان دپلار څخه جلا بوی دائی ته وسپارل شوه په حقیقت کښې شیلی ددوړو زامنو دپاره دپلار نابه قانونی پاتی نه درلودی شیلی د «ماری ګاډوین» سره رسمی ازدواج نه وکړی چه یو غیر شرعی زوی ئی پیدا شو. پدی وخت کښې ئی یو بل نظم دعسویت په خلاف خپور کړ ددغه سببه دا ښه فیصله بلل شوی ده چه د «هیرت» زامن دده دتربیی څخه لیری دیوی دائی حفاظت او روزنی ته وسپارل شوه. ددغو کچنیانو دمور تر مرګ وروسته شیلی یو بل ډیر خوند ور شعر په نامه د «ئلاستر» وېلی دی چه ډیر شهرت لری.

شیلی یوه دوستانه شاعرانه مسابقه د کیتس دشعر «اند یمین» په مقابل کښې کړیده او یو مهم شعر ئی د «اسلامي انقلاب» په نامه ویلی دی.

شیلی کله چه د لمړی ماندینی تر مرګ وروسته د «ګ دوین» سره واده وکړ نو ایتالیانه لاړ او هیڅکله انګلستان ته راستون نشو. په روم کښې ئی خپل لطیف او نفیس اشعار ویلی دی چه ډیر مشهوره ئی (پرومی تیوس ایباوند) او هم یوه بله کړه تراجیدی اثر ئی د (سن سی) په نامه ویلی ده دده نژدی ملګری کپتان (می ډی ون) وائی چه «جولین دما ډیلو» د شیلی بله مشهوره ډرامه ده چه د ده لوړ ابتکار ځنی ښکاره کیږی.

ژوند ددغه لوی او برجسته شاعر سره وفا ونکړه او وروسته تر «۳۰» کالو چه لا ځوان ؤ روح ئی د بدن څخه خدای په امانی وکړه. وائی چه شیلی د کښتی وانی سره زیات شوق درلود. یوه ورځ په یوی نوی بېړۍ کښې د خپل ملګری کپتان «ویلیمز» سره د لوغارن څخه د کور خوا ته چه «لیریسی» ته نژدی ؤ، راستانه کېدل، په لار کښې سخت طوفان ولګید او کښتۍ دفعتاً غرقه شوه د «ویلمیز» کوشش اولامبو فائده ونکړه او د هغه جسدئی مړ او نیم لڅ ساحل ته نژدی پیدا کړ. خو شیلی هم پداسی حال کښې مړ پیدا شو چه یو لاس ئی په جیب کښې بند پاته ؤ او په بل لاس کښې ئی د «کیتس» مشهور شاعر کتاب د لوستلو دپاره نیولی ؤ.

په ایتالیا کښې وګړی په یوه عجیب عادت عقیده لری چه د هغه په اساس دا ډول مړه جسدونه که وسوځل شی نو دطاعون مرض ور کیږی پدی ترتیب ددوی پاتی شو مجبوراً پدی امر قناعت وکړ او دواړه مړه جسدونه د «تریلاونی کپتان شینلی لار دبیرن، اولی هنت» په حضور کښې په احترام وسوځل شوه. د شیلی سوځل شوی ایری روم ته راوړه شوی او دده د زوی او کیتس شاعر دڅنګه خاورو ته په پروتستانی ادېرې کښې وسپارلی شوی.*

*دشیلی په پوهې، ابتکار، او طبیعی استعداد تول پوهان متفق دی مگر تنها تاسف پدی کښی دی چه ده « کوین موب » او « اسلامي انقلاب » د حقیقت او رواج په مخالفت او ضد لیکلی دی . مگر دده تول نور شعرونه د ده مقام ثابتوی او یوازنی سړی دی چه دانگلیسی موزیك په تکمیل او انجام کښې ئی ستر لاس لاره

شیلی سر بیره دده پر ځینو عجیب او متضادو افکارو دخپلو دوستانو دخوا محبوب او دقدر ور گڼل شویدی دی ډیر صادق آزاد طبیعت، وطن پالسونکی او خیر غوښتونکی شاعر واو په دی راز ښه پوهیدو چه اجتماعی اصلاح څه ډول میانځ ته راوړی دده افکار او تخیلات نسبت دده استدلال او قضاوت ته قوی وه .

شیلی تول ژوند په بیهوده او خراب ډول ندی تیر کړی او د خپل وطن دپاره ئی لوی ادبی افتخار په لوړو اشعارو او ډراموپری ایښی دی خصوصاً د ده « پرومی تیوس » ډرامه تر اوسه نظیر او مثال نلری.

داصلاح دیرشم گال

په روانې میاشت کښې داصلاح ورځپانه دیرش کلنه شوه . اصلاح چه د هیواد له ستر وورځپانه څخه ده ، په خپلو



ښاغلی عباسی

تیرونه ویشت کلونو کښی ئی دیادونې وړ خپرونی کړی دی . اصلاح چه د اصلاحاتو وظیفه په غاړه لری ، په دې موظفه ده چه د ژوندانه په تولواړ خوسیاسی وی او که اقتصادی عرفانی وی او که کولتوری خپرونې وکړی او دا خپرونې دولسوالو له سوئی سره سمې ددوی داستفادی او دعمومي ذهنیت دروښانتیا دپاده وی. برسېره پردې ورځپانه داوظیفه هم دځان گڼی چه په خپلو خپررنو کښی واسوال خپلو حیاتی او اساسی وظیفه نه متوجه کړی او په دی لار کښی یو ښه لارنیونکی شی . لکه چه دو ورځپانی له تازه تیری څخه ښکارېږی په دې برخه کښی ئی ښه گامونه اخیستی او لوستوونکی ئې په خپلو ښو خپرونو سره مجبور کړی دی چه ئی ولولی .

مونږ دی دیرشمی گالیزی په مناسب ښاغلی عباسی ددی ورځپانی فعال او یا سلیقه چلوونکی او همدار از نوزو ښاغلو کارکوونکی ته ئی دموفقیت ارزو ښکاره وو او دورځپانی داساسی هدف په تعمیم او تعدیل کښی ورته نور هم همت او بری غواړو ،

(اداره)

کابل مجلې دپښتونستان دورځې په مناسبت ځانله خاصه خپرونه وکړه، سر بېره په هغه څرنګه چه زمونږ دمجلې داګڼه دسنبلې له نهمې یادپښتونستان له تاریخي ورځې سره تصادف کوي، نودادې لاندې مضمون د محکوم پښتونستان (پېښور) ددوران له مجلې څخه اخلواو دلته ئې خپروو. (اداره)

ددوران له مجلې څخه

له کوټې څخه
دښاغلي ع.ر.م لیکنه

فلسفه، تاریخ او پښتونستان

دبنې آدم دډېرېدو او پردغه دنیا خپرېدو بعد څه داسې مسئلې پیدا شوې چه انسان ددوی په حل کولو کښې ډېر تکلیفونه هم وګالل تر نور و مسئلو زیاته ګرانه مسئله دژوند یو خاص نظام قایمول ؤ دتاریخ په هره دوره کښې انسان کوشش کړېدی چه خپل ژوند دخاص اصولو مطابق تیر کړی دغه اصولو نه چاجوړول؟ او څنګه پې جوړول؟ ددغه په حقله تاریخ وائی چه دهغه وخت دانسانی ضروریاتو او مفادو مطابق به پیغمبرانو، مصلحینو او پوهانو دژوند څه اصول جوړ کړل - بیا به ئې انسان ته ددې تعلیم ورکړو - اوله څه مودې بعد به دغه ژوند او ژواك انسان خپل کړه که یو وخت دعراق وعرب دبت پرستۍ بد اخلاقۍ، توهم پرستۍ او خراب معاشۍ دژوند خلاف حضرت ابراهیم آواز پورته کړی وه. نوبل وخت دهندوستان دخراب معاشرت، غلط معاشیات بر خلاف مهاتما بدهه مصلح په جامه کښې پورته شو. که یو وخت د مصر د قبطیانو دمعاشي او معاشرتي آزادۍ دپاره حضرت موسی و دریده. نوبل وخت دعرب دجهالت لوږی بی نظامۍ او بداخلاقی ختمولو لره حضور صلی الله علیه و سلم پیدا شو. دغه شان دموجوده زمانی تحریکونه او انقلابات، لکه دامریکی جنګ آزادی، دفرانس انقلاب دهندوستان جنګ ازادی او چینی انقلاب صرف له یوی وجی و شو، چه هغه ددی علاقو د خلقو ژوند له تباهۍ راښکلی وو. او داد تاریخ ضرورت و. کوم ناپوهه به داوائی چه کمیونستان دزار روس په اجازت انقلاب راوست یا چه شاه فرانس انقلابیانو ته قانونی اختیارات ورکړی و. او کوم یو به ووائی چه دانګریزی پارلیمنت دقانون مطابق امریکنو یا هندوستانیانو آزادی واخستله. نودامعلومه شوه چه دغه دانسان دنوی ژوند دپاره ضروری و. او کوم قانون چه انسان پر یښود هغه هم ده پخپله جوړ کړی و چه اوس ئې ضرورت نشته،

دغه تحریکونه څله شروع کیږی او انقلابات څله راځی؟ راځیء چه دباند وانقلاباتو څخه یو انقلاب راو اخلو، او تجزیه ئې وکړو، دغه انقلاب

د فرانس دی . په دی خاص دفرانس دمورخینو نظریه څه ده . یعنی دا انقلاب څله راغلو؟ له دی وجی کتلو بعد به مونږ ډیر په آسانه خپل مقصداو ددی مضمون مرادته ورشو .

دفرانس دانقلاب متعلق په فرانسیسی مورخانو او پوهانو کښ دابحث شروع شو. چه ددغه انقلاب وجه څه وه ؟ آیا دغه وخت د پوهانو ، روسو ، ولټیر ، ډیډرو ، مانتسکیو دفلسفیانه خیالاتو او د انسانی ژوند متعلق دد وی دنظریاتو نتیجه وه ؟ او که د دی وجه څه نوره وه؟ دغه بحث په کال سنه ۱۸۷۸ کښی دپروفیسر فیلیکس دوکسین دیوه کتاب په خپرېدو شروع شو. روکین وائی چه دانقلاب دخلقو دحقوق ، انصاف ، مساوات دپاره جنګیده . او دولټیر ، روسیو ، ډیدرو ماسټلیو اودجان لاك فلسفیانه نظریی نه وی ، اصل وجه لوږی . تندی ، نهری ورځی او هغه تکلیفونه ؤ. چه ولس لکه قید یان پکښ نښتی وو. دی وائی چه دغو خلقو انقلاب راووست صرف په دی چه ددی وخت حکومت پر دوی هر ظلم کاوه دروکسین دانظریه دوخت تنقید نکارانو ډیره وستایله دوی وائی چه که څوك دانقلاب وجه معلوموی ، نو پوهانو او مفکرانو له دی نه ځی ، فلسفیانو خو فلسفیانه الفاظ استعمالول چه پری یو عام فرانسیسی پوهیدلو هم نه. ددوی په خیال که څوك دانقلاب وجه معلوموی نو د فرانسیسیانو روزانه ژوند خاص معاشی ژوند دی وګوری دهغه وخت دشکایاتو سرکاری رچسترونه او هغه یاد اشتونه چه په کلو او باتډو کښی دوی دخپلو نمایندګانو ته چه له سنهٔ ۱۶۱٤ بعد اول وارا ستیټ جنرل ته په ۱۷۸۹ کښ تله پیش کړی وو : بیا به ثابت شی چه فرانسیسیانو د آینی حکومت د حاصلولو دپاره انقلاب نه وراوستی او په دی چه دوی دنوی امریکی په مقابله کښی سیاسی طور پاتی ؤ او نه په دی چه دوی مفکرانو او پوهانو پوه کړل بلکه ددی وجه صرف غټ غټ تیکسونه ، کچه سړکونه . جاګیرداری او کلیسا ظلمونه مختصراً بنیادی شکایات او تکلیفات وو. هغه خلق چه دچادا خیال و: چه انقلاب دلوبولو یو خیالاتو او غټو مقاصدو مختصراً د «آزادی مساوات او اخوت» دقایمولو د کوشش نتیجه وه دروکین ددی دلایلو په ځواب کښ پاتی راغله او ځواب ئی ورنکړو .

آخر په کال سنهٔ ۱۹۰٦ کښی ماریس روزتان په خپل یوه کتاب کښی دروکین دخیال مخالفت وکړو دوی وائی چه دغه انقلاب دفیلسوفانو او پوهانو دنظریاتو او تعلیم نتیجه وه چه هغه په داسی اولس کښ پیدا شو چه چیری مادی مشکلات هم ډیر وو . روکین وائی چه له سنه ۱۷۱۵ پورته بی صبری او ناقراری دډوډی دپاره کم غارت ګری ، دانتظامیه او دعدلیه او دسوبائی اسمبلیو په منځ کښ وړو وړو جګړو په شکل کښ ظاهره شوه نو زورتان په ځواب کښ وائی چه دغه خود پوهانو د تعلیم

وجه چه داولنی کلو ناقراری
بی صبری ' کومی جکړی په
لوی قومی انقلاب کښې تبدیل شو
دروزتان پـه خیال ددی پوهانو
او مصلحینو تعلیم دانلسمی پیړی
ددوهمی نیمائی برخی بعد په ولس
کښې مضبوط شو. دروسیو اوله
نظر په په سنـهٔ ۱۷٦۰ کښې
قایمه شوه نو دیر وخت غوښت
کیده چه دغه خیالات داولس
په مغز واوزړو کښې ځای
ونیسی که په سنهٔ ۱۷۵۰ کښې
دوودی دیاره کوم انقلاب
راغلی خوتر هغی روځی نه
چه پوهانو دوی تر دی په لویه
لوزه خبر کړه هغه لوزه دآ ینی
حکومت حاصلول او فطرتی
حقوق کټل وو او یقیناً په دوی
د امریکی نوی آینی حکومت
او دبشر دحقوقو اعلامیه دیر
زیات اثر واچاوه دروزتان
نظریانو دروکین ځواب ورکړ
او دائمی ثابته کړه چه دژوند
دنوی نظام دپاره دپوهانو او
مفکرانو دیر ضرورت دی.

داخوشودفرانسیسی پوهانو
افکار' راځی چه مونږهم وکورو

چه ددی انقلاب دغه رنګ
دتولو انقلاباتو وجه څه وه ؟
آیا دغه دروګین رنګه صرف
دولس ضروریات اومفادوو ؟
یا که روزتان رنګه دپوهانو
نظریات او تعلیم وو. چه انقلاب
راغی او دژوند نوی لار لیکه
شروع شوه ؟ زما په خیال دغه
دواړه سره ملګری وو که معاشی
نامساوات وی' خلق اوخ او
بربندنه وی' دبذګرو ګټه په
سلو کښې اتیا جاګیر دارانو
واکو الانو کلیسانه خوړلی '
که دغریب په کور هو سره
دوډی وی چه سحرا وماښام
ګزاره ئی پری کیدی شوی که
دبذګرو کره هوسره کالی وی
چه دوی ئې دژمی له یخـه
اوداوری له ګرمی نه ساتی' او که
علم یو ازې د کلیسا او مذهب
دوکدارانو په لاس نه وی' نو به
څله و لټیر دمذهب بر خلاف
کیده؟ څله به روسیو دحکمران
تولی برخلاف پور ته کیده ؟
او دروم دروزتان مطابق که
چیری چیرې دغه پوهانو
ونه وی نو دغه لـوزی' دغـه

تکلیفونه او دغه ظلمونه خومخکښې
هم وو: نو څله اقوام نه متحده
کیدل؟ نودا ثابته شوه چه هر
تحریک' هر انقلاب اوهره نوی
لارد دو وخیزونو په اشتراک عمل
دعمل قایمیږی . اول بنیادي
ضروریات چه سامراج قوت په وجه
عوام ځنی محروموی. دوم دهغه
وخت دپوهانو ' فلسفیانو او
مصلحینو تعلیم یعنی اوس مونږ
تاریخی فرموله جوړ کړه اوس
مونږ که هر تحریک وګورو نو به
دغه دوه څیزونه سره مل شوی
وی . بیابه دغه تحریک کامیاب
شوی وی . اربل داهم څرګند
یږی چه وخت پیش شی نو
پوهان هم پیداشی په موجوده
عصر کښې بو دیر ښه مثال شته
دروس بذګران او مزدور
کاره خلق دتزارپانو په ظالمو
پنجو کښې بندوو . ضرورت وچه
پوهان پیداشی نو کارل مارکس
اولینن پیداشو . هغه وشـو چه
د تاریخ ضرورت و سامراج
ختم شو. نو دژوند نوی لاره
شروع شوه .

کرانولوستونکو! اوس راشی

چه وګور و چه ددغی تاریخی
فارمولی مطابق زمونږ آواز
پښتونستان هم دی که نه ؟
پښتونستان دعوامو بنیادی
ضروریات کښې شامل دی
او که نه ؟

پښتونستان یو تحریك دی
چه صرف یوه صوبه جوړیدل
نه دی پښتونستان خو دژوندیو
نوی نظام دی دا به دپښتنو
ژوند پرنوی لاره روان کړی چه
زمونږ درنو پوهانو تا کلی ده .
پښتونستان یو صوبه جوړول نه
دی چه چېرته به صرف عوام خپله
رایه په پیسه خرخوی پښتونستان
دپښتنو دهغو بنیادی ضروریاتو
پوره کول دی چه عالم انسانیت
کښې صرف دغه یو قام له دغو
تراوسه محروم دی پښتونستان
یو لوڅی پښتون پټول او دهغه
اوږه ختمول دی . پښتونستان
دپښتون نه جاهلیت ور کول او
دنړۍ دنورو قومونو سره ئی
اوږه په اوږه او درول دی.

پښتونستان دپښتو مورنۍ
ژبه بیرته ژوندی کول دی چه
کله دفارسی کله دانګریزۍ
او کله دنورو ژبو لاندی شوې
ده. هغه جهالت چه پښتانه په
سلګونو کلو ددی په وجه توته
توته شوی دی او هغه علم حاصلول
چه دنیا و آسمان ته پری خیژی
پښتونستان بلل کیږی هغه
مزدور کاره پښتانه چه دسحر
ماښام ډوډۍ نشی موندلی
مړول او هغه غاصبان چه دوی
دخپلو یادپرد یو په جامو کښی
دادولت وړ (وړی) هغوی په آینی
طریقو داقتدار د کرسونه لېری
کول پښتونستان دی. پښتونستان
هغه غلطه پښتنوا له ختم کول
دی- چه پښتانه ئی درسم ورواج
او دبد اخلاقۍ کندی ته غور
ځولی دی او هغه پښتنوا له شروع
کول دی چه هر پښتون ته فائده
ورسوی .

یعنی پښتونستان قطعی صرف
یو سیاسی تحریك نه دی داخو
دپښتنو دپاره یو معاشی، علمی،
مذهبی، اخلاقی، ثقافتی او
معاشرتی (چه یو بل پوری
تړلی دی) تحریك
دی- او هغه ورځ پښتونستان
جوړ بلل کیدی شی- چه دغه تمام
ضروریات بالکل پوره شی-
او سیاسی طاقت حاصلول خو
ددغو کارو دپاره ضروری دی-
نو ثابته شوه چه پښتونستان دپښتنی
اول بنیادی ضرورت دی-
زمونږ دفارمولی اول شرط خو
پوره شو-

له بنیادی ضروریاتو بعد اوس
مونږ ته په کار دی چه وګورو
آیا مونږ پوهان او مشران لرو
او که نه؟ زما په خیال مونږ پوره
دوخت مطابق پوهان لرو- مونږ
خو دا ضروریات ډیر مخکښی هم
درلود- اوس څله مونږ دا نظر
په قایمه کړه- او بل مونږ څله
لږ تر لږه تعلیمیافته تقریباً
په سلو کښی نوی ددی قایل
یو چه مونږ به داژوند غواړو؟
ددی ځواب ښکاره دی زمونږ
مخکښی هم ضروریات وو- اوس
هم څته خو دا نظریه مونږ ته پوهانو
دباچاخان او خان عبدالصمدخان
رنګه مصلحینو را وښودله
او کوم خلق چه ددی برخلاف
دی هغه هم صرف له ناپوهۍ
دی زمونږ پوهانو زمونږ
ضروریات و کتل او بیایې اصول

جوړ کړل چه دهغو مطابق که
مونږ ژوند تیر کړو نو به مونږ
دموجوده دنیا په مقابله کښې په
هر پهلو کښې را شو.

یو سوال اوس دا پیدا کیږی
چه پښتانه سیاستدانان خو نور
هم شته خو مونږ څله چه د پښتنی
نظام سوال راشی دغو مشرانو ته
گورو؟ هغه ځواب آسان دی
دغه کسان دی چه د پښتو تکلیفات
یی کتلی دی او دغه کسان دی
چه د پښتنو ضروریات پوره کول
غواړی- هر چا ته معلومه ده- نو
زمونږ دقایمی کړی فارمولی
مطابق که دنیا هر څومره مخالفت
وکړی خو پښتونستان به جوړیږی
نو زما گرانو ورونو! تاریخ
وائی چه پښتونستان به جوړیږی
ځکه چه دا د ټول پښتون قام
ضرورت دی- نور پریږده دغه
د تاریخ ضرورت دی که یو یو
پښتون په بمو نو والوزی، تمام
مشران او پوهان د بل له لاسه
مړه شی یا په حیلو نو کښې خاوری
شی. خو که یو پښتون په دنیا دی
تاریخ به ورله پښتونستان جوړ
وی په دی چه دغه یو نوی نظام
دی او دوخت ضرورت دی.

لیکونکی ښاغلی م. ز

وراسته فکرونه او زاړه دودونه

سهار چه لمر لانه ووختلی د
(خندك) مور (لوانۍ) دنغری
پرغاړه ناسته وه تور چای جوش
ئی پر اور ایښی وه او کرار ئی
پیالی او چاینکه ورته والل (دخندك)
پلار مندك کاکا) دنغری له
څنگه پر یوه زاړه بالښت باندی
لکه زوړ کی غزیدلی و واواوږده
اوږده ارزمی به ئی کښل څه وختی
چه چای جوش را وایشید او
(لوانۍ) هم په گوړی میده کولو
پس ولاړه چای جوش سرو کړ
او د تودوایرو تر ندی تر تیرانو
ور سیدی (مندك کاکا) چه
لاهم هغسی ستونی ستخ پروت ؤ
ناری ئی کړی او ((لوانۍ))
دغم چای دی شه خواد به تو لی
توی شوی او او رئی هم مړ کړ
راشه دغه کښته کړه لوانۍ
گوړه په پلو کی نیولی وه په
چالاکۍ راغله او چای جوش ئی
ښکته کړ نو بیا داور په لگولو
لگیا شوه اور چه بل شو او چای
جوش ئی ور باندی کښیښوله
نو د دیو اله خواته ورو څخیده

او مندك کاکا ته ئی وویل.
پرون د (تور گل) باغ ته دلاښی
تولو لولپاره تللی ومه (خټك)
هم هلته راغی او د (خندك) دواده
پوښتنه ئی وکړه. او وئی ویل
واده مو کله دی چه مونږ نس په
اوبو کی کښیږدو او وئی ویل
چه وری ډم هم ویل چه چیری مې
کار دی ځم خو خبر شوی یم چه
د دوی واده دی که ژر شی خوښه
به وی.

«مندك» کاکا ځان را
په څنگ وکړ او وئی ویل زمونږ په
حال څوك نه دی خبر موږ دوږی
په حال ځان نه خبروی اوس نو
بیا د دغو روڼو ستر گو جواب وایه.
لیونۍ فکر دی شته یوه عجیبه
دنیا ده (تاتك) کله چه پوهیده
چه څنگه مو په پنځو کلو کی
پنځه اس زره رو پۍ و لور
ورور ساوه نو ئی مانۍ وکړه او خبر
نه و چه د خندك د خوشحالۍ د پاره
باغچه څه چه ځان به هم گرو
کړو رښتیا (کریم) حال را کړی و
چه که تاسو وغواړی نو باغچه

به بیرته پرتاسو گرو کرم اولیونی
زماهم دا خو ښه ده ځکه والله
که مې ستر کې پرې رو نې شي
چه زما په باغچه کې بل څوك پرې
و کړي او یا پکښې و کرزي .

سبا به له خیره سره و رشم او
باغچه به ورڅخه اجاره کړم او
داد (خندك) واده مو چه سره تیر کړ
نو سمدستي اور بشي پکښې کړم .

(مندك کاکا) چه لا خپلې
خبرې نه وې خلاصې کړې
لیونۍ رانې دخبرو وارتري وینو
اووې ویل «هو اسره شوه نو تاچه
اور بشي کړلې مخکښې به دې
دافکر کړې وای د (بورانۍ)
دې هم خو اسره شي پر کمیسه ئې
خوابده کړې وه او ویلې وو
چه ماخو ښینه نه بولې او که نه
دا کمیس وچه دې یو ښې کې
ئې ماته راوړې دې ما نوله ځانه
سره وویل چه دا ستا سو دمانې
چم نو ددوستانو چم واوله هغې
راهیسې چه مونږ دا غو ته له
تاسې سره تړلې ده څه نا کجا تې
هم نه وې چه ومونه کړې او اوس
دې خدای زرزمونږ لاس له تاسې
څخه راو کاږې (مندك کاکا)

وویل خدای دې و کړې چه
(دومبیك) سباله اسپې سره
راشي ځکه. چه بله ورځ خو به
واده ته ځو اوس ځم چه کرېم
ووینم او د باغچې په برخه کې
ور سره وغږیږم .

دواده ورځ :

د مندك کاکا خپلوان او ځینې
نور شنا ختګان سره راټول
شوې دي او د (تاتك) د کور
خوانه دواده راوړاو په غرض
د تلو په خیال کې دي په خندا
خندا سره رهي کیږي زلمیان
برلاري تو کې تکالي کوي
ژبري ماز دیګرد (تاتك)
کورته رسیږي اول د کلي له
کوچنیانو څخه چه په لاره کې
دورادراتلو په انتظار ولاړ دي
پوښتنه کوي. چه تاتك چیرې دي
هغوی ورته وائي چه (تاتك)
کاکا همدا اوس هغه پورې خوا
کلي ته ولاړ و راوال سم د (تاتك)
کورته ورځي او دروازه تکوي
دروازه خلاصیږي او میلمانه
یوې کوټې ته د (تاتك) دښځې
له خوا بوتله شوه ورا وال حیران
پاته دي یو بل ته په معنې داره

دول ګوري او (مندك) کاکا
ډیر خوابدي لیده کیږي او تو له
په دې ګمان دي چه چیرې (تاتك)
بیا ځان وباسي او خبره بیا همداسې
اره بره پاته شي ښه ډیر وخت
تیریږي چه (تاتك) را ځي
(مندك کاکا) ئې پوښتي
چه چیرې وې خبر هم وې چه
مونږ راځو نو تګ خو چیرې
لازم نه ؤ (تاتك) یو ځلې ترې
وزې بلې خبروم چه تاسې راځي
پوهیدم چه تاسې مې لوروړې
او غواړې چه ما یو اخه بریږدې
ما په څه خوار یو او یه کړه او.
تاسو تن داسې خوشحاله وریسې
راره یاست چه هغه خپل کورته
یوسې والله که خوبه ئې په ښه زړه
راڅخه یوسې د کلي ملا صاحب
مداخله کوي او په څه نرمو
او کرمو خبرو تاتك کرا روي
شپه تیریږي او سبا ته د واده
ترتیبات پاڼه پرې جګړ خو نه
نیول کیږي خوخه وخت چه
د تاتك له کلي راوځي بیا تو کې
تکالي شروع کیږي پرلاري
په ناوې پسې دولونه وهل کیږي
تویك ویشتل کیږي، او ناوې

د (مندك) کاکا کورته راوړه کیږی.

وروسته له واده:

«بوره» دوې دری ورځې د کورناوی وه پټ مخ ناسته وه کراری کراری ئی خبری کولی او سسته او سسته ښوریده د کور خلکو تولو په ځیر د «بوری» حالات عادات او په کار کښی ئې دهغی سلیقه غندله چا به دهغی دا کراره وضعه د کاله د نیکمرغۍ پال نیو او چا به ویل اغزی چه د ځمکی را بورته شو او تیره نه وبیا نه تیره کیږی شپی او ورځی تیریدی (بوره) هم د کاله له کاره سره کمه کمه بلدید له دمخ ښکارولو مقدمات ئی نیول کله نیم مخ پټ او کله به ئی یوه ستر که کور والاو ته ښکارو له اوس نو د (بوری) کارپاکی له کوره سره علاقه هر چا ته معلومه وه او هر چا به ویل ارمان مو د مندك کاکا د باغچی کروول دی لیونۍ (انۍ) به لا بیا هم د خندك د زړه نه اچولی په غرض ویل ښه به شی وی ء خدا یه مونږ نو چیری دومره ډېر کار درلود چه اوس (بوری) هغه ونکړ خوا پاکی ښه شی دی خو (بوره) نر اوسه نه ده پوهول شوی ښه به شی داسې نورې خبرې چه له (بوری) څخه د نا امیدۍ بوی ته له هری خولې او ریدل کیدلی او (بوره) هم د ناوی توب له کبله څه لا ښه وه خو چه ورځی به تیریدی «بوره» به سستیدله یوه ورځ کنډولی مات بله ورځ ډوډی څڅیدلی او داسی نور هره ورځ پیښه او زړه بدی (مندك) او لیونۍ هم نا کراره کرل هغشپه چه مندك کاکا دا بوو وار درلو دا رماخستن دی او خندك) او بو ته دلګولو لپاره لاړل نو سبا تیرما سپښین کور ته راغلل ستړی او وږی وو د سرای په دروازه چه را ننوتل د کوټې ور خلاص ؤ خوشجا له شول چه ډوډی به پخه ؤی نو به ئی حوزی او ژر به بیده شی خو چه را ننوتل د چرګانو برها شو او بڼې په هوا کرځیدې کوری چه د اوړو ته غاره چرګانو په مښو کو وهلی او وړه تیب پراته دی د خونی پرغولی د چرګانو مرد اری څخه د ناستی ځای نه واؤ (بوره) هم په یوه کنج کې په درا نه خوب بیده ده مندك کاکا د خپل زوی په مراعات او خندك د پلار له شرمه څه ونه ویل او بوره ئی ویښه کړه چه ولاړه شی ډوډۍ پخه کړی اول ئی ورته وویل دا ځای خو پاك کړه (بوره) ووته چه تنور وا چوی خندك خپل پلار ته وویل. «سپین ږیری یی» کړم که ئی پر پز دم خلك به را باندی تو کی کوی او که ئی وژنم حکومت مې نیسی که هیڅ نه کوم ژوند مې بر باد دی مندك کاکا سوړ آه و کیښ او (خندك) ته ئی مخ ور اړاوه ورته ئی وویل هو زویه وراسته فکرونه او زاړه دو دو نه خو دغسی وی طلاق ته خلك بدوائی د ښځو تعلیم او پوهه خلك بده بولی په شل زر مروپۍ به بیا بله ښځه له کوامه در ته کوم یوه باغچه وه خو کرومې کړه پنځه کاله مز دوری خو مو پردی ولاړه خدای دې ور حمیږی او پوه مو دی کړی.

راغلی لیک

ښیړنوال اتمان

دکابل مجلی محترم مدیرته:

څرنګه چه زه دکابل مجلی پرمخ تګ له ځان سره سوچ وهم یادهغی معنوی لوړتیا اوپرمختګ څومره چه ئی مونږ تاسو ارزو یاتلو سه کوو ممکن نه دی:

ځکه چه یوخو زمونږ دموجوده ټولنی علمی سویه ټیټه ده اوبل دا چه مجله لیری یانژدې لائق اوعلاقمند لیکوال نه لری نوپدی نسبت زمونږ مجله وروسته ده او خپل حقیقی معراج ته کوم چه زمونږ ستاسو ارزوده انه یسی نو اوس ددې دپاره چه زه ستاسو ددې لوړ عزم ملاتړ او ددی لوړ ارادی مرستیالی شم، نواوس پدغه اساس خپله رایه او نظریه داسی ښکاره کووم:

۱: کابل مجله بویه چه سربیره په ها خپل مسئول مدیریو اداری او یوطباعتی مرستیال ولری، اودامرستیالان دواړه بایدپه خارجی ژبو پوه، تجربه کار، لیکوال اولسانسه ګانی وی، چه دها خپلی پوه، تجربی اوعلمیت له مخی دمجلی په لوړ تیااوپرمختګ کښی له ننیواوباندنیو خپرونو څخه پوره اودقدر وړاستفاده وکړای شی...

۲: کابل مجله باید چه میاشتینی او دمخوشمیر ئی هم شپته وی...

۳: کابل مجله بویه چه دځینو لازمی اوضروری موضوعاتو اومضمونونود مصورولو دپاره یولایق او ماهر پوه رسام ولری. چه دهغه په اثرمجله ښه رنګی اومضمونونه یی تربخوایو په دوه خوازه اوجذاب شی.

٤: کابل مجله بایدپه هرولایت اوهر لوړ حکومت کښی یوتن پوه لیکوال اومکلف ښکارندوی ولری، اوهغه باید سربیره په ها خپل اثر اومقالو دها خپلی سیمی اوولایت نکلونه کیسی، لنډی بګټی، بدلی، غزلی، لغات، اصطلاحات، محاوری، لهجی، متلونه او دپښتو نور نوی زاړه اثار راغونډ او هغه بیامیاشت په میاشت مجلی ته راواستوی اومجله بایدددې راز اثار ودخپرولو دپاره یوه ځانته برخه او څپرکی واری...

(پاتی په ۲۸ مخ کښی)

ښاغلی راز محمد وېښ،

آزادی

خپلواکی او آزادی د ملی غرور، ملی تحریك، ملی احساس او تفکر هغه مثبته نتیجه ده چه دیو ملت او ټولنې د عزت او شرف د ساتلو او پاللو نه راوزی.

حریت او آزادی دیو ملت د ژوند او مرګ تقدیر دی قانون د زمانې دی آزاد او خپلواك ملکونه په ژوندو کښې شمېری او نا آزاد یا محکوم وګړی په مړیو کښې حسابوی. د دغه احساس او شعور په برکت څلوېښت کاله د مخه دغې پښتنی ټولنی د خپلې آزادۍ په آئینه کښې وکتل او د ملی ژوند ګټنه ئی د تورې په زور او د وینو په تویولو لاس ته راوسته:

ننګیالی چه یو ځل مخ کړ په یو لوری

نو هیڅ نه وینی کوهی وی که ګړنګ (رحمان بابا)

ملی عظمت یا ملی لوئی په ملی خودۍ حاصلېږی. د دنیا په ملتونو کښې د لوی او واړه فرق هم له دغه ځای نه کېږی، هر ملت چه څومره زیات پدغه آئینه کښې خپل ځانته وګوری هومره ښاغلی شی.

پښتون تبر (۴۰) کاله پخوا د دغه راز ځان پیژندنی او شخصیت پالی په حکم د غلامۍ کړۍ شلولې او ځانته ئی دیو سیال په ستر ګه کتلی دی، نو ځکه پدغه ملی سیالۍ ویاړ کوی، او ځان ورته ښه ښکاری:

په جهان د ننګیالی دی داد وه کاره

یا به وخوری ککرۍ یا به کامران شی (خوشحال خان)

پښتون یعنی افغان یو بې بده، بې آزاره، خپل خوری او خپلواك ملت دی. خپلواکی دیو ملت روح او شعور، ملی ناموس او افتخار ته وایه شی د دغه افتخار او ناموس ګټنه او ساتنه په قوی روح او حساس شعور اړه لری.

دلوی څښتن په فضل څلویښت کاله وړاندی دغه نعمت له هرچا زیات دپښتنو په برخه رسیدلی او پښتانه دهر نعمت نه زیات په دغه نعمت شکر باسی،

چه تر خپله حده پښې غزوی وړاندی — زمانه به ئی جمال غوندي پایمال کا
چه په زور دبل جامه اغوندی ځانته — نا شسته به ئې دخپل زخم دستمال کا
پردی برخې هیجا نه دی خپلی کړې — بلکه خپلی به پری بایلی چه دا خیال کا

(حمید ماشوخیل).

دنیا په دی پوره پوره خبره ده چه پښتنو دیت او عزت ساتلو دپاره د سرور کولو امتحان ورکړی او دوینو په بدل ئې دقومی پت او عزت ژوند «خپلواکی» گټلی ده،

دا دڅلویښتم تلین ننني تقریب دپښتنو پتمنو شهیدانو د سرښندنی محصول چه پښتانه ئې دویاړ او فخر په مزار ډیوی زدی دپښتون او افغان ملت په زړه کښی دنن نه «٤٠» کاله وړاندې دیوی بختوری ورځی یاد تازه کوی.

دغسی مبارکې ورځی قدر افغان یعنی پښتون ملت لکه فرض په ځان لازم گڼی او ددغی ورځی په مناسبت دومره ویاړ کوی لکه څومره چه دیو خپلواک او په خپلواکۍ باندی مین ملت سره ښائی،

پروت په وینو کښی ات پت ښه یم په پت کښی
نه د سر وزرو په تخت باندی بی پته

«حمید ماشوخیل»

(د ٢٦ مخ پاته)

٥: کابل مجله باید داسی علمی او مسلکی مضمونونه خپاره کړی چه نظم ئی دنظم نثر ئی دنثر، ترجمه ئې دترجمی او تالیف ئی دتالیف، ښوونډوی وي، فرضاً که کوم راغلی مضمون ټیټ وی او دنشر وړ نه وی هغه باید دمجلی د مدیر او مرستیال له خوا اصلاح او دلیکوال دتشویق او ترغیب دپاره دی خپور شی...

٦: دمجلی دهر مضمون حق الزحمه دی دکمیت او کیفیت له مخی و تاکله شی، نه دمقالی دچټی او ږدوالی او دلیکونکی دڅوکۍ په لحاظ،

٧: څرنگه چه دپښتو ټولنی درست غړی دیو مضمون په لیکلو مکلف دی نو باید دحق الزحمو ته په تعین کښی هم ټول کډون وکړی، داوه زما نظر به چه په دا پاسنۍ توگه می تاسی وړاندی کړه خدای دی وکړی چه داستفادی وړوی.

دحسین بخش کوثر پلټنه

اختر یا یخ تیر

په کار دی چه مونږ دې ځای کښې دږغ پوهنې معمولی غوندې څیړنه هم و کړو ځکه چه دلته دځینو اشتقاقی تکونه دپو څو تهذیبی الفاظو استخراج هم ضرور دی.

زمونږ دعوه ده چه د پښتو «اختر» «د یخ تیر» نه مشتق دی او د غلط فهمۍ له مخې تر اوسه ئې چا څه معنی نه ده ایستلی داصولو نه خ «په» س کښې تبدیلیدی شی همدا وجه ده چه د پښتو خواهر (خور) چه په فارسی کښې ورته (خواهر) ویلی شی پـه سنسکرت کښې «سوسر» شی چنانچه د پښتو «یخ» چه دراوری نه ویلی شی په انګریزۍ کښې آیس (ICE) پـه ډول موجود دی همدغسی (ی) چه (I) کښې اکثر بدلیږی ر ابدلیږی د فارسی یك نه ی) چه په (I) کښې بدل شی نو دهند کو (اك) سازشی په همدې اصول د پښتو یخ یخپله کښې (اخ) په شکل راشی او (تیر) دسونی اختصار له مخې (تر) شی نو «یخ تیر نه» (اختر) پـه وجود کښې راځی همداشان انګریزی د خپلو صو تی اصولو له جهته یخ تیر نه (ICE-TER) سازوی او تری یو تهذیبی لفظ (EASTER) ایستر جوړ کړی پور تـه مو ولوستله چه دواوری موسم تیرشی نو دزړو پښتنو په خیال یخ تیر شی همدا یخ تیر لفظ چه یخپله ژبه کښې د اختر او په انګریزۍ کښې د (EASTER) ایستر شکل اختیار کړو چه د سپرلی موسم وی لکه چه دیو ویشتم مارچ او دلمړی حمل په توضیح کښې مو ولوستله چه دژمی په باب داوری آغازوی دی میاشتی نه په سنسکرت کښې «هیم انت» او په هندۍ کښې (بسنت) ویلی شی په سنسکرت کښې هیم داوری او «انت» خاتمې نه وائی نو کویا د (هیم انت) نه مراد د داوری خاتمه یا یخ تیر شی او هندو کلنډر له مخې (بسنت) یا (هیم انت) دمارچ په میاشت کښې راځی.

ناسو پورته د تیرمعنی رده کړه هم د دې نقطه په وزن بل یو لفظ «پیر» هم دی چه معنی ئی واګرا ځیدل دی په پښتو کښې ساګرځول «ساپیرل» اکثر په استعمال کښې راځی او زماخیال دی چه د بلوچستان پښتانه دا نکی اکثر پکاروی زمونږ دعوه ده چه «سپرلې» د (ساپیرل) مصدر نه په وجود کښې راغلی دی پښتانه دعقیدی له مخې لکه چه دزړو سمیریانو د توحید په ځقله وه نو ځکه ددوی دموسم په نوم کښې هم د «سا» ریښه شریکه ده سپرلی ددې وړو وړو ریښو نه جوړه شوی کلمه ده «سا» د روح

یا ژوند ، پیرل، گرځیدل او
اخری یای مجهول له د اسم
تذکیر علامه ده ،

پښتو کښې «پیر» پیرا پیره
وغیره ټول دوریا گرځیدنو په
معنی استعمالیږی مونږ که پیر
سره قندهاری او قطبی مصدری
علامې وتاکو نو سا پیرنگ او
ساپیرل) تری حاصل شی
په دی توجیه مونږ ویلی شو
چه دانگریزی سپرنگ چه
پسرلی تری مراد دی
دقندهاری مصدر نه په وجود
راغلی دی برته ددې به انگریزی
کښې همدا سپرنگ کمانی
دپاره هم راځی ولی په پښتو
کښې چه کوم کټ لکه
د کمانی کښته پورته کیږی
دهغی دپاره پښتانه وائی هلکه
کټ «سا اخلی» په هر حال
د «یخ تیر» لفظ نه هم دا
نتیجه راخیژی چه اختر او

ایستر دواړه دد بې نه په وجود
راغلی دی اوهم په دې خیال
د اختر د «یخ تیر» نتیجه
سپرلی وی نو همدا موسم
د حیات او د ژوندون د نوی
ابتدا زمانه وی او ددی دواړو
الفاظو ډیری جوتې اغیزې
د انسانی ژوندون او د عقیدو
په بقا کښې کار کوی دایستر
په تشریح کښې دانمی میلادی
پیری بیدنومی یوپادری لیکلی
دی چه ایستر غالباً د یوې
خدایښې (دیوی) نامه وه .

دا میله به د ژمی تر یخه
د واوری وریدونه پس په ۲۱
د مارچ لگیده چه په آخر کښې
د عیسویانو په مذهب کښې هم
شامله شوه که د بید پادری په
وینا دا میله چه ایستر نومیده
په مارچ لگید له نو دا خبره
خو مسلمه ده چه ایستر
«آیس تیر» نه وران شوی

تکې دی او آیس تیر دپښتو هرومرو
یخ تیر دی او همدا لفظ
د «اختر» بنیادا وا یزه ده
په دی توضیح مونږ مجبور شو
چه د اختر د میلی نیټه همدا
۲۱ دمارچ یعنی د حمل لمری
ورځ وگڼو .

داسی ښکاری چه داسلام
دقبلولو نه پس پښتنو په اسلامی
«عید» همدا نوم هم مقرر کړو
حالانکه دعبرانی او سریانی
ژبې له رویه عید» هم دعیدانه
مختصر شوی توری دی چه
معنی ئی گډوری ده په افغانستان
کښې د گل سرخ په نوم دیکم
مارچ نه تر ۲۱ مارچ پوری چه
کومه میله کیږی هغه اگرچه
ان سباد «اختر» یه نوم
نه یادیږی ولې دموسم اودنوم
دتجزئې له مخه مونږ «اختر»
یعنی یخ تیر همدادی . پای

ښاغلی (فنا)

ای گرانې خپلواکۍ!!!

اې د رنګینو شهیدانو
دسپیڅلی روح معنا !!!
ته دسرو یاقوتی رنګو سړو،
تو دو وینو دقطرو تفسیر!!!
او دزخمی سینو او تټرونو!
د ګلالی زخمونو !
دمستو خندا ګانو! ترجمان!
د لژندو کفنونو! دمرګ
د هنګامو!
دوژونکو صحنو د غمګین
او خوشحالوونکو ماجرا ګانو
د تاریخی دیوان د قدر وړ
مضمون یی !!!
اې دوطن دپرمختګونو راز!
دهېواد دترقۍ جنبه !
د خاورې د سمسور تیا او
ودانۍ سلسله !
د پاکو او مقدسو ملی او
اجتماعی آرزو ګانو او هیلو
معراج !!!
ته دپښتون ملت د تاریخی
کارنامو !
دباغیر تو میړونو !
با همتو ځلمو !
او دبا ننګو ښځو او پېغلو
د فدا کارۍ سمبول !!!
ته په دښتونو، رغونو، او
غرونو کښې ! !!
داسارت دتورتم پوخت کښې!!
دسرو وینو دقطرو شیندلو
شین زرغون او ډېر خوږ ثمرئې!!
هو!!!



ښاغلی فنا

ستا په غېږ کښې هرڅوك
آرام خوب کولی شی !
ستا له برکته هر څوك
دخپل کوشش، کار او لیاقت
سره سم شپې او ورځې تېرولی شی
هو کې !!!
ته دهرچا په ژوندون کښې
لویه برخه لری !
او په حقیقت کښې بې له تا نه:
دمینا نو دمینی خوند !
دوړو ماشومانو په زانګو
کښې د خوب آرامی !
دآرزومندوونو ؟ !
دارمانجنو څانګولاندې ؟!
دپېغلو د مازیګری تالونو
کیفیت !!!
او په پای کښې !!!
دهرچا د زړه ارمان ! هیله
او تمنا !
نه شی تر سره کېدای،
اې انسانانو فطری ګوهر!!!
او دپښتنو ذاتی او عنعنوی
جوهره !!!
دا ځکه !!!
دتولو هېوادوالو ملی اختر!
دخوشالۍ ورځ !
او دسترګو نورئی !!!
د تولو پښتنو د سرلوئی او
ویاړ نې تاج !
د زړو، ځوانانو، پېغلو،
ځلمو د آرزو ګانو او
هوسونو مل !
د روح تسل !
دمجنونو احساساتو لیلا!

[پاتی په ۳۲ مخ کښی]

ښاغلی دوست شنواری

داڅه دی؟

غوږ ته می شرنګ دزولنو راځی
داڅه اثر په زمانو راځی؟

څوك شولو کی په نظر ماتی دچا؟
مشام ته بوی د سپیلنو راځی

چه وینبی ستر کې په ژړاوینمه
ستر کو ته خوب په بهانو راځی

زړ کیه دومره خو ناخوالی مکړه!
دغسی حال په میړنو راځي

ما ته دي پوهه لیونتوب ښکاره شوه
ستا چه خندا په لیونو راځی

یار به دا وښکو په تسپو یا دوم
عار می د کاڼو له دانو راځی

(د ۳۱ مخ پاته)

د نیك مرغۍ شاهد ؟
دژوند شیرین ملګری !
په ژوندون کښې د کار ،
کوشش او زحمت مشوق !
او دقام دوطن دوستۍ نمونه!
د سربازۍ تمثال !
د قربانۍ مصور !
او دافدا کارۍ هنداره ئی!
اې ګرانې آزادۍ !
چه ته نه اوسې په هیڅ شی
کښې به هم خوند نه وی !
دچمنو، ګلزارونو، او باغونو
میلې بې لذته !
دسیندونو دمستو څپوزمزمې!
د آبشارونو خوږې خوږې ترانې؟
د بلبلانو شور ، غلبلې او
شیرینې نغمې !
بې کیفیت ! !
د ګلانو رنګ، بوی، ښکلا!

د طبیعت د ښو ښو منظرو
سینګارونه !
د نازبو ناز !
د روانو او بوساز !
د مرغانو آواز !
ټول بې مزې او بې خونده وی.
چېرته چه ته نه ئې هلته
آبرومند ژوندهم نشته !
بې له تانه ژوندون کوم قیمت
او شرافت ! نه لری !!!
او مرګ هم ډېر شرم آور
ننګین شی دی !!
عشق هیڅ حقیقی سوز او
جذبه نه لری -
مینه کمال ته نه رسېږی!
او نیم ګړی پاتې شی !
عیش، راحت او آرامی ډېر
لږ هغه هم په بله معنا ! او یا
بېخی پیدا کیږی نه !

بشری حقوق !
انسانی ښېګڼې
او ملی آرزو ګانې !
د ظلم ... اتلاف؟ او ناروا ؤ
د پښو لاندې محوه کېږی ؟
په رښتیا چه ته داستعمار په
شومو پنجو کښې دایسار شوی
مظلومو خلکو دزړه تمنا... او رجائی
ته د لوی خدای (ج) یو
قیمتی نعمت او لوی بخشش ئې...
رب دې تل مدام د پښتون
ملت په نصیب لره ...
تا به د سر په ور کولو ،
او دوینو په تویولو ساتو...
سرمو درنه جار ...
تن مو در نه قربان ...
و ینې مو درنه صدقه ...
او ځان مو درنه زار زار...

غ.غوث خیبری

پریکړی گوتی

(جماله) رنځوره وه. د جمعو او میاشتو پرته وه، هغه غریبه چه په لنگتون کی نقصانی شوی وه نو بس هماغه نقصان ئې ورځ په ورځ زیاتېدو. داسی ئی کړه چه بیا له سره پېژندل کېدله نه... حتی کله کله به ئی ماشوم ځوی (جنډول) له هغی نه ډه ډه کوله او حیران حیران به ئی ورته کتل.

هغه شپه د نورو شپو په شان نری نری باران وریدو، د جمالی مور هم زمونږ کره وه او د (جنډول) سره په هغه بله کوته کښی پرته وه ما بیا د جنگ قیصی (جمالی) ته کولی او هره شپه به می په دی شان هغه وېده کوله...

د جمعی مبارکه، شپه وه، په مړه چراغ کښی هماغه شانی لگیاوم جمالی ته می قیصه کوله ویلی می: (جمالی) قربان دی شم، سربه دې نه خوږوم ناجوړه ئی... ماښام ماښام چه شو نو بس زه او «اکبر» لالا روان شو د هغه په سر یوه توره توپۍ وه چه چپی ډډی ته ئی یو اوږد ځونډی ؤ او د تگ په وخت به هغه وړاندی ورو سته کېدو

آسمان همدغسی تور ؤ لکه دا ن شپه چه دی خو باران نه راتلو او باد به د دنیا خاوری

شگی زمونږ په ستر گو گنبی را ننه ایستی او د (اکبر لالا) د خولی ځونډی به ئی د ډاکی ډاکی ایشتو.

یره (جمالی) چه ووایم ما په خپل عمر کښی داسی سخت باد نه ؤ لیدلی خو باور به دی ونشي. خو سره د دی هم شپه به نیمه نه وه چه د «بیری و نې» ته ورور سید وا و دازمو نږ د وعدې ځای ؤ.... یعنی دا هغه ځای ؤ (جمالی) چه زه او (اکبر لالا) د لته د سور گل. جلات: نواب منیر، ودود، خیرو، رحمان او گلاب جان سره. یو

ځای کیدو او بیا دهغه ځای نه
دخو نړۍ جګړی دپاره روانیدو
دبیری ونی ته چه ورورسیدو
نو تیاره ډیره زیاته وه، ستر که
په ستر که نه ښکاریده دباد
دلاسه دونې ښاخونو دومره
شور کولو چه غوږونه کڼیدل..
زه (او اکبر لالا) درسیدو
سره سم دونې ډډته کینا ستو
ځانونه مو کلك تاو کړل او
دنورو دراتلو منتظر شو ساعت
په ساعت دباد زور زیاتیدو
او د څانکو او نازکو ښاخونو
دماتیدو آواز ونه اوریدل کیدل،
خود نورو دوستا تو پته نه وه
معلومه کله کله به ما (اکبر لالا) ته
او هغه به ماته وګتل او په پټه
خوله به مو خبری کولی،
نامعلومه شانی ویره تر هه مو
په زړه لویدلی وه.
شپه د نیمائی نه اوښتی وه،
بادلا هماغسې په زور او شوری
کښی ؤ خاوری شګی په مخ
راوریدې خود ګلاب دوی نه لا
هیڅوك نه ؤ را معلوم شوی،
لږ لږ ناامیده شوو، ځان سره مو
دا فیصله وکړه چه نور هغوی ته
منتظر پاتی کیدل عبث
کاردی او دوه په دوه باید

دحملې او جګړې بندوب وکړو
پس د ځایه را باڅیدو او د ډیری
ناامیدۍ نه دا کبر لالا دخولی نه
یو - وړاو سیلی را ووت
ما تو پك د څادر نه را بهر کړو
د څادر په یوه پیڅکه مې دمخ
خاوری دوړی لېری کړی او
په همدی حال کښی مې ستر کی
دلیری نه په یوه تورشی ولیګدلی
اول مې خیال داراغی چه
کینی ستر کو مې توره پرده
واړوله یا وهم مې ستر کو نه
راوړل نو بیا مې څادر په ستر کو
را ښکو خو چه دویم واری
مې ورته وکتل بیا مې هماغه
تورشی تر نظره شو او دا ځل ورته
ښه په ځیر شوم،..
او (جمالی)؟ څه ووایم
نثردی مې زړه دویری نه
پړك چاودی ؤ، غونی مې زیګ وشو
لاسونه مې سست شول پښې
مې ولړزیدی حلق مې وچ کلك
شو، سر مې دلا، تو په شان.
و چورلید ما ویل دغه دی اوس
به په مځکه راوپرزم...
په هغه تورتم کښی چه دلحد
تیاره به تری ډیره ښه وه جمالی
یو تورشی راروان ؤ آخوادی
خوا دا به ئی تو پو نه وهل

کله به بیا کرار شو، په ځای
به ودرید بیا به بیرته راروان شو
جګ به شو تیټ به شو، غټ
به شو وړوکی به شو، ورك به شو
پیدا به شو خو څه به درته وایم
چه خوله مې کیلی شوی وه چه
اکبر لالا ته څه ووایم
اکبر لالا په ځان بوخت ؤ
کالې ئی څنډل، خاورو
دوړو را نه دقبر مړی جور کړی ؤ
بل په هغه ونه باندې ظالم باد
قیامت جوړ کړی ؤ دونی
د چغو فریادونو نه چا څه
اوریدلی شوه..
شیبه نیمه تیه لا تیره نه وه چه
هغه توره بلا جمالی) تو کی
نه کوم، هغه نور څه ورته ووایم
مونږ ته را نژدی شو، اوس مې
نو ښه لیدی شو، و نه ئی دیو
بنیادم قدر ته وه. خو اوس
تټیدو او جګیدو نه هماغه یو شان
ؤ یل دا چه برابر مونږ ته راروان ؤ
بیا یوه شیبه چه تیره شوه
نو هغه جمالی، مونږ ته ښه را نژدی شو،
زمونږ څو قدمو نو ته راورسید
او په دی وخت پری د اکبر لالا
ستر کې هم ولګیدلی او دلید او
سره سم ئی تو پك لټ و وهلو
او ماشی ته ئی کوته وروړه خو..خو..

آخ (جمال جانی) دخدای پاك قدرتونه ؤخلاف درته نه وا یم قسم دی. دا کبرلالا دلټ وهلو سره سم دهغه ناشناسه غبزپورته شو چه په چیغه کښی ئی وویل:

هن پام کوه هلکه، زه یم ...

اکبر لالا زه یم ...،...

جمالی ناشناسه یوه پیغله وه اکبرلالا وپیژندله ورمنډه ئی کړه هغه ته ورنژ دی شو بیائی هغه دلاسه ونیوله او په کراره ئی دونی ډډته کینوله.

ما داهرڅه په ستر گو لیدل خو باورمی نه گولو دتعجب نه می خوله وازه ختلی وه ځای په ځای ولاړ وم په ځان پوه نه وم وخت هم رانه هیر ؤچه څه وخت ؤخو کله چه (اکبر لالا) راته په اوږه لاس کیښود او هو ښیار ئی کړم هلته می ستر گی.. جمالی دزړه ستر گی په هغه پیغلی و نښتی او هغه می له تو پـك سره و لیده چه ښایسته وجود، سپین مخ لکه د څوار لسمی سپوږمۍ هلته ناسته ده او چه زه څو قدمه ور وړاندی شوم نوې پړو ئې ئی په سر بر ابر کړو اوله ځایه پاڅیدو.

دپیغلی پاڅیدل او خدای پامانی یو ځای ؤمطلب داچه دپاڅیدو سره سم ئی دا کبر لالا سره لاس ور کړو او بیرته روانه شوه او...

(جمالی) هغه پیغله چه په لاره روانه شوه نو دپاو لو شرنگهار ئی عجبه مزه کوله، هن جمالی په قار نه شی هسی تو کی می وکړی... نو بس دپیغلی دتلو نه پس اکبر لالا راته وویل چه «امانیه»! دا پیغله نواب دوی ته رالیږلی وه، میړ نـۍ پښتنه ده.، دلـو کافرو ځواب ویلی شی، هغه کـر نیل څه ؤ (جیم) ؤ که څه ؤ خو همدی وژلی ؤ کـنه. هن مطلب دا ؤ چه نواب دوی «دسپین کـلی» دساتلو دپاره هلته لاړل او مونـږه هم نن شپه په کور تیره کړو سبا شپه به یو ځای دجنگ او یرغل تیاری نیسو. جمالی، اکبرلالا ماته دا خبری کـو لی خو زما تـول ذکر او فکر د پاولو دشرنگهاری سره ؤ او....

په دی وخت کښی (جمالی) نـاڅاپه د ډزو هنگامـه شوه.. سمه اوغرولړزیده.، د ماشین گـڼو داسی بی واره آوازونـه شول تـا به ویل دغه دی اوس به داونه اوغرو نه راونړیږی...

زه او اکبرلالا هماغه شان دونی ډډته پریوتو او دډزولوری ته مو غوږونه ونیول.، ډزی په هماغه ډډی وی چه لږه شیبه مخکښی هغه پیغله... هغه دپاولو خاونده تللی وه...

زه او اکبرلالا په مطـلب ورسیدو، دواره موهغی خوانه منډی کړی او ځان مود پیغلی کومك ته ورور سولو...

تیاره ډیره زیاتـه وه..، ددښمن لیدل او معلومیدل مشکله خبره وه یوازی هـمـدومره د سنجش دمخی نه چه دیوی خوانه یو نیم ډز او دبلی ډډی نه د ماشیدار و کـړ سها ر ؤ پوه شوو چه خبره څه ده...

کـله چه مو نږ دوه تنو په ډزو شروع و کـړه نـو دواره دپیغلی غبزپورته شو او دهغه د غـبز نـه د غیر تـی پیغلی په خوشحالۍ پوی شوو.

جمالی څه به درته وایم چه
په هغه شپه ډیر سخت جنګ
زمونږ او کافرانو ترمنځ وشو
او د ټولونه زما دهغی پښتنی
پیغلی میړانه او شهامت خوش شو،
خو کاشکی چه تقدیر او
قسمت . . .

او ف جمالی دسحر سحر موده
به وه چه هغه میړنی پیغله چه
ملائی په پړونی تړلی وه دډیر
غیرت نه مخکښې لاړه د یو
قهرمان په شان په ولاړه ولاړه
وړاندی تلله او ډزی به ئی کولی
خونه پوهیږم چه د ښمن ولی
هغه نه ویشتله او ټولی ډزی ئی
په مونږ کولی . . .
جمالی پیغله ډیره وړاندی لاړه .
دومره وړاندی چه نوره مونږ
ښه نشوی لیدای او لږه شیبه پس
بیا دهغی ډزی نه اوریدل کیدی
دسحر سپیدی چه ښی داغ
شوی نو دښمنانو سنګر پریښود.
په نیښته لاړل " خو ." دپښتنی
پیغلی پته هم نه وه معلومه چه
څه شوه . . . . اوقسم دی جمالی
چه تردری و رځو پوری ماته
دهغه دمړه کیدو اوور کیدو نه
ژړا تلله او . . . .

دلته په دی وخت کښې
رنځوری جمالی په ډیر زور
سره خوله پرانسته اوماته ئی
و ویل :

د جنډول پلاره . . . هغه
چراغ . . . . بل کړه . . . .

دجمالی داخبره راته عجبه
شانی ښکاره شوه ، حق حیران
پاتی شوم ، لږ شانتی وویریدم
چټک را پاڅیدم او تیلی می
ووهلو ، اودجمالی سرته چراغ
می بل کړو .

چراغ چه ولګیدو نو ما دجمالی
مخ ته وکتل چه ټول خولی خولی
دی او په مخ ئی څو د اوښکو
لښتی را روان دی نورهم پسی
حیران او وارخطا شوم ، ورغلم
او په کټ ورته مخامخ کیناستم
او چه زه ئی ځان سره نژدی
ولیدم نو موسکی شوه راته
په کراره کراره ئی وویل :

د جنډول پلاره ، دهغی پښتنی
پیغلی پاتی قیصه به درته زه
وکړم " هغه پیغله چه ته ئی
دپاولو شرنګهار لیونی کړی وی
دښمنانو په چل و نیو له ، چل ئی
داؤ چه په هغی ئی هیڅ ډزی
نه کولی او چه ښه دهغوی منځ ته
ور و رسید له نو تری چاپیر
شول او . . . . .

په جمالی ډیر سخت درد
راغی او خبره ئی نیمائی کښی
پاتی شوه ، او چه درد کم شو
نو بیائی خبره د سرنه ونیوه :
هغه چه گرفتاره شوه نو وسله ئی
ترینه واخیسته او کپتان
داړورډ ته ئی وروستله ، هغه
کپتان د ډیره قهره د هغی
پښتنی دلاس دری گوتی غوڅی
کړی او د نورو دعبرت دپاره ئی
بیرته پریښوده او دا هغه دری
گوتی وی چه پیغلی پری
توپک چلولو . . . .

نوره می جماله خبری ته
پری نښوده ، بی اختیاره می
اوښکی په مخ را روانی شوی
او دیو فریاد سره می سر دجمالی
په پښو کیښود ، دهغی پری کړی
گوتی می په ستر گو کیښودی
او په خپلو بی وارو مچو می هغه
لندی خشتی کړی . . . . هغه
جنګیالی پیغله . . . . همدازما
رځو ره جماله ره . . . .

« پای »

ښاغلی میرا کبر

آراده نړۍ

په اجتماعی او انفرادی ژوندون
کښې ډېر ځله داسی شوی او
کیږی چه د زیات تلقین او تبلیغ
په واسطه تور سپین او سپین تور
وښودل شی او ډېر څرګند حقایق
پټ او یا سرچپه کړل شی داد
سایکالوجي له نظره ثابته شوی ده که
یو سړی . ډېر پوخ هم وی خو
د تلقین او تبلیغ په واسطه کیږی
چه تیروزی داخو لا څه چه په
ننی طب کښې سختی ناروغۍ
د تلقین په واسطه هم علاجیږی
ماله خپل ځان سره تل داسوچ
کاوه چه د غربی نړۍ خلك به
زیات دقیق وی او ډېر رزنه نه
تیر وزی خو داسی ښکاره شوه
چه د تبلیغ په برکت هر څه کیږی
هغه متمدن او عالم خلك هم
سړی دو که کولی شی . د دی
مسئلی په شاوخوا کښې به زه اوس
یوه په زړه پوری مر که چه ما
دامریکی د حقو قو دیو هنځی
له یوې لیسانسه سره کړی وه
بیان کړم ښه مې په یاد نه دی
چه د کومی رخصتی ورځ وه

خو په ښار کښې د کابل سینما
خو اته دیوه فلم د لیدو دپاره
په چټکۍ سره روان وم که
ګورم چه زما د ښوونځی چاپانی
پروفیسر په مخه راغی له روغبړ نه
ئی ور وسته په ما ته ګوډه
انګریزی په خبرو شروع وکړه
او یوی ښکلی خانمې ته چه په
څنګ کښې ئی وه اشاره وکړه
او وئی ویل چه دامیر من زما
میلمنه ده په اصل د امریکی
او د خاتیزو هیواد و د کتلو په
نیت افغانستان ته راغلې ده
غواړی چه شیان وپیری او هم
په عین حال کښې یو څه عکاسی
وکړی نن خو کومه مذهبی ورځ
ده خلك په بازار کښې ډېر ګڼ
دی نو دا ښځه ډاریږی چه څه
ور پیښ نه شی که ته له مونږ سره
یو څو دقیقی وګرځی ډېر به
درنه خوشحاله شو پس له دېنه
ښځه راوړ اندې شوله لاس ئی
راکړو ماور ته وویل چه خانم
هیڅ هیره نشته هر څه چه اخلی
هر چیری چه ځی ته به محفوظه

ئی تشکر ئی را نه وکړ . سره
روان شو بازار کښې دی خوا
ها خوا وګرځیدو عکسونه ئی
واخیستل سودائی وکړه غرمه
شوه ښځی را ته ست وکړ چه
غرمه به هرومرو له ما سره
تیروی زما ځای د کابل په هوټل
کښې دی ماور ځنی تشکرو کړو
چه ته خو زمونږ په هیواد کښې
میلمنه ئی ښائی چه ما سره غرمه
تیره کړی که کورنه لرم هوټلونه
خوشته ښځې وویل چه ستاسی
هوټلونو ته ښځی تللی شی؟ ورته
مې وویل چه ولی نه ښځی په
همدی خبرې موافقه را سره
وکړه مخ په هوټل روان شو
هوټل کښې کښیناستو ډوډۍ مو
راوغوښتله د ډوډۍ په سرمې له
ښځی نه پوښتنه وکړه چه تا څه
فکر کولو ګوا کې څوك به
دی سودا او عکس اخستلو ته نه
پریږدی دی وویل چه ما په ډېرو
انګریزی کتابونو کښې لوستلی
چه ستاسی خلك له خارجیانو نه
بده منی تعصب لری په تیره بیا

په دینی ورځ باندې .زه پوه شوم
چه ددی مطلب دانګریزی کتابو
څخه دی دامې فکر ته راغله چه
مونږ به چاد متعصب، بد معاش
او وحشی قوم په حیث معرفی
کولو،...

هغه خلك هر څوك پیژنی
خیر په هر صورت ښه مې پوه
کړه چه داکتابونه چالیکلی
او مرام ئی څه وو؟ ته یوه پوه
ښځه ئی په دی به ښه خبره ئی چه
دی خلکو چه مونږ ته بدویل
مقصد به ئی ښه راته معلوم وی
مونږ که څه هم غربي تهذیب
او تمدن سره پوره اشنانه یو
خوله بلی خوا هم مونږ خپل
ملی تهذیب اودودونه لرو چه
ورته زمونږ په ژبه پښتونواله
ویل کیږی چه ځینی داسی
پرنسیپونه لری چه هغه زمونږ
دافتخارو او دامیتازسبب له
نورو نه بلل شوی دی زمونږ
مخالفین هم ددغه اصولو په ښه
والی باور او اعتراف کوی
مونږ دخپلی پښتونوالی په
اساس خارجیانو ته نه یوازی
ښه کورو بلکه په خپل هیواد

کښې هغوی دمیلمه په سترګه
ګورونمانځوئي او ساتوئی هغه
خارجیانو ته مونږ په بده سترګه
کتل چه دملیمانه په توګه به
راغلل بیا به ئی دکور والی
دعوه کوله مونږ په دی خبرو
کښې سره اخته وو چه معلم
صاحب خو په انګریزی نه پوهیدو
دوه کباب له سیحانو سره لګیاو،
په دی کښې زمونږ دوه نور
همصنفان ر! غلل چه د معلم
صاحب هغو سره ډیره جوړه
وه هغوی هم کښینا ستل، په
اشاره به ئی یو بل سره پوهول
په دې وخت کښې ښځی رانه
دکورلر لوپو ښتنه وکړه ماهم
ورته ځواب ورکړ بیائی دقومیت
سوال وکړما وویل پښتون.
دپښتون د نامه اوریدو سره
دې رانه بیا پتوس وکړ چه
دپښتونستان لپاره به
وجنګیږی؟ ایا پښتونستان
حقیقت لری؟ زما طبیعی ځواب
په دی باره کښې یوه هووه
د پښتونستان دحقانیت خبرې
باندې لږ څه دتاریخ اوجغرافیه
له رویه وغږ بدو دی هم دتائید

سروخو ځوه بیائی و پوښتلم
چه پښتونستان به جوړشی؟
ځواب! - ته خوله یوه داسی
هیواد نه راغلی ئی چه باید
دهغه پوه افراد هڅیکله د ملی
نهضتونو په بریالیتوب کښې څه
شك ونه لری ځکه چه ستاسی
ولس په اتلسمی پیړۍ کښې
له یوې ډیرې لوئی امپراطورۍ
ځنی خپل حق وګاته نومونږ
به په شلمه پیړۍ کښې چه هره
خواهر چیری د آزادۍ او
دیموکراسی ناری سورې دی او
پښتونستان غوندې ډیر نور
نهضتونه په بیړه د کامیابۍ
خواته روان دی حتی کامیاب
شوی هم دی ایا بیا یه هم ددی
نهضت په کامیابۍ کښې څه
شك موجود وی؟ هندچین خپله
خپلواکی وګټله تونس او
مراکش ازاد شول مونږ به نه
ازادیږو په دی باورولره چه
پښتانه به کامیابیږی میرمن
نوره هم ځیرشوه او داسی ئی
و پوښتلم پښتانه که رښتیا
ازادی غواړي ولی لکه هند
چین او نوروغوندی توده جګړه

نه شروع کوی؟ ځواب: تاسو
باید دا پوښتنه نه وای کړی
ځکه چه دهند دازادۍ دنهضت
فلسفه خودو مره مشهوره ده او
وه چه هر خبیر انسان باید
پرې خبروی ته نه پوهیږ چه
هند خپله خپلواکی دعدم
تشدد په توره و ګټله د پښتنو
لیډران هم دعدم تشدد داصولو
پابند دی، دوی دانسانیت واقعی
نمایندګان د سولې حقیقی
غوښتوونکی او پالوونکی دی
دوی هر وخت ویلی او دائی
ښکاره کړی ده چه دوی دامن
او سولی له لیاری او دبین المللی
اصولو مطابق کوښښ کوی چه
پښتونستان ازادشی دپښتونستان
دنهضت مشران په دی عقیده دی
چه خپلواکۍ غوندې یو پاك
مقصد نه ښائی دانسان په ونیوو
لړل شی، پاك شی باید په پاکو
وسیلو لاس ته راوړ شی پښتونستان
نیان دسولی غوښتلو رښتیانی
مدعیان دی او دانه غواړی چه
دسولی دتامینولو په پلمه په نورو
ودانګی و ینی توی کړی، بله
پوښتنه په افغانستان کښې

یوازی پښتانه دپښتونستان
ملاتړ کوی که نور اقوام؟ ایا
په افغانستان کښې به دی داسی
سړی لیدلی وی چه هغه به لدی
خبرې سره مخالف وی؟ دی وویل
چه پخپله خونه بلکه ډېر مې
اوریدلی او لوستلی دی چه
یوازی د فغانستان دولتی
دستګاه او څوتنه پښتانه دی چه
داخبره ئی رابرڅیره کړی ده
ماورته بالمقابل دا څرګنده
کړی ده چه کوم هغه امریکنی
اخبار ونه چه د ختیزو هیوادو
دملی نهضتونو په خلاف خپرونې
کړی او کوی هغه امریکایان
چه شرقی ملی نهضتونو ته
دمخالفینو په نظر ګوری
دسیاست له نظره ډېره لویه
سهوه کوی دهمدی اشتباهی
سلوك په واسطه په دی سیمی
کښې دامریکی بین المللی حیثیت
ته ډېر لویه صدمه رسیدلی ده
څرنګه چه امریکائیان مونږ
ته په شك او بدګمانۍ ګوری
مونږ هم دامریکی تولو ادعاوته
دشك او نر دیدیه ستر ګو ګورو
دمخالفینو په خبرو باندې په یوه

حقیقت باندې قضاوت کول
منطقی کار ندی. دافغانستان
ټول ولس له هری ډلې، فرقې قوم او
ولس څخه چه وی دملی هیلو سرته
رسولو کښې سره یو وی او دا
یو والی ئی په هره موقع کښې
څرګند کړی دی. ډېر افسوس
دی چه دوه کاله محکمې ته
پخپله دلته وای او په همه شپه
چه ښاغلی سردار محمد داؤد
زمونږ صدراعظم د یوه یونټ
په حقله خبری و کړی او په
سبا باندې هغه لوئی او بی ساری
مظاهری په کابل او دافغانستان
په نورو ښارو کښې د ټول
ولس له خوا په څومره شدت
سره وشوی او څه تاوانونه
وانه وښتل بله ورځ دپاکستان
دتهدید په مقابل کښې هغه
سفر بری چه اعلان شوه او په
څلورویشتو ساعتو کښې د کابل
په ښار کښې دانسانانو څه یو
عظیماشانه طوفان جوړه شو
او خلکو په شوق او ذوق سره
دډولو او بیرغونو سره دزنده
باد پښتونستان په آواز سره
ځانونه دخدمت لپاره د رضا

کارو په لست کښې شامل کړل
داخودملی وحدت یوه نمونه ده
که خدای مکړه د تو بك ډز
هم منځ ته راغلی وای هلته
به مو بیا لیدلی ؤ یو چه یوو واو که
بیل البته استثمار هر چیری
موجود دی بیا یو ښتنه: مونږ
وایو تاسی چه پښتنو ته
پښتونستان غواړی ولی خپلو
لږه کیو ته خپلواکی
نه ور کوی ؟
له دې پوښتنی سره سره می ډېر
وخندل او د تحصیلاتو پوښتنه می
ورڅخه وکړه چه په پای کښې
راته معلومه شوه چه د حقوقو او
سیاسی علومو لیسانسه وه
د کالیفورنیا له پوهنتون څخه وتلی
وه نو می ورنه دا تپوس وکړو چه د
حقوقو له رویه خو به د لیږه کیو
په باره کښې څه معلومات ضرور
لری ؟
دې وویل هوښه ډېره ښه ایا
په افغانستان کښې لیږ کیو په متعلق
دی کوم کتاب یا کومې بین المللی
محکمی کوم شکایت لوستلی
او یا اوریدلی دی؟ ایا په افغانستان
کښې ملی اقلیتونه کوم حقوقی
مفهوم لری ؟

ایا ټول وګړی د قانون په نزد
مساوی نه دی ایا زمونږ په هیواد
کښې تبعیض شته؟ او داسی څوك
به په ټول هیواد کښې پیدا کړی
چه کوم اقلیت پوری تعلق ولری
او له حقوقو څخه محروم وی ؟
د پورتنیو پوښتنوو په مقابل
کښې د دی ځواب منفی وډېره
هم و شرمیدله بیان ما ورځنی
و پوښتل : که نن تاسی ته څوك
ووائی چه تاسو خپلو تور پوستو او
سور پوستو ته خپلواکی نه ور کوی
ار په خپل هیواد کښې د ننه ورته
بل هیواد نه جوړوی سره د دی
چه د امریکې د تور پوستو
او از تل پورته دی له هغو سره
تبعیضې سلوك روان دی له ډېرو
او سیاسی حقوقو څخه
محروم دی؟
آیا دغه ادعا به حقوقی
او سیاسی ماهیت ولری آیا
ستاسی ملی منافع تاسو ته داسی
اجازه در کړی چه دا کارو کړی؟
ښځی سوړ او سیلی وویست راته
ځیره شوه او یو ترنګ وروسته ئی
راته وویل چه زلمیه رښتیا وائی
دا ګناه زمونږ د سیاستمدارانو
په غاړه ده چه مونږ ئی له لیاری
ویستلی یو اوس یقین لرم

چه پښتونستان حق دی خو صرف
دومره خبره ده چه مونږ
او تاسو آزاده نړۍ کښې ژوند
کوو که چیری په خپلو کښې
سره یو نه شو کمونستان زمونږ
له نفاقه ګټه اخلی نن چه
آزاده نړۍ خطری کښې ده
نو محلی ادعا ګانی به وروسته
سرته رسوو ښائی چه اوس سره
یو او سو د آزادی دنیا نوم اوریدو
می یو ځل بیا ډیر سوالونه په سر
کښې را پیدا شول ځکه چه د
آزادی له مفکوری
ځنی دا سوالونه د انسان زړه
ته راځی چه که یوه آزاده
دنیا لکه چه غربیان ئی ادعا کوی
دغه شیان دی نو محکومه دنیا
کښې به څه حال وی ؟
ولې چه دری آزاده دنیا غربی
اروپا او ځنی آسیائی او افریقائی
دولتونه بولی محکومه دنیا
کمونستی بلاك هیوادونه
خطا بوی له هغی نه می د آزادی
دنیا جغرافیائی موقعیت
و پوښت دی هم راته
همداوویل .

ماورته وویل په دی آزاده
نړۍ کښې خوا الجزایر هم
پروت دی چه هره ورځ د آزادی
غوښتلو په جرم په سلګونو
ملیون پکښې شهیدان کیږی
او کورونه او کلی ئی په بمو
او توپو ورانیږی په دی آزادی
نړۍ کښې زمونږ پښتانه هم
پراته دی چه د آزارۍ په جرم
محبسونه تری ډک دی ستاسو
پدی آزاده نړۍ کی خوتونس
او مراکش هم واقع دی چه
حبیب بورقیبه هره ورځ تاسو
سره د دوستۍ ناری وهی
او له کمونیزم نه تپرا کوی
ولی کلی ئی تر بمبارۍ لاندی
نیول کیږی او خاوری نه ئی
فرانسه خپل عسکر نه باسی
کینیا عمان او مسقط هند چین
او هندوستان هم په دی آزاده
نړۍ کښې پراته دی نو ولی
هم پرتګال له خپل خاوری نه
ویستلی نه شی یود خپلواکۍ
غوښتلو په جرم اعدامیږی
او له بل سره منظمه جګړه
اعلامیږی آیا آزادی او آزاده
دنیا هغه ده چه پکښې په آزادۍ
سوه خلک وژل کیږی ؟
ناموسونه تباه کولی شی ؟
استثمار ، استعمار قانونی
او حقوقی شکل ولری ؟
مونږ په دی خبری پوهیږی
چه محکومیت او آزادی ستاسو
په قاموس کښې څه تعبیر لری ؟
هغه دنیا کښې چه استعمار
نه وی استثمار وجود
ونه لری هر فرد او هر ملت خپل
مقدرات په خپل لاس کښې لری
هلته نه دالجزایر غوندی
واقعات او نه د پښتونستان
په څیر بیښی شته
آیا دا ممکنه ده چه د خلکو په
وجدان باندی د زور یا زر
له لاری حاکمیت قایم کړای
شی ؟ مونږ شرقیان بی وزله
یو خو یو به ولی کم عقل نه یو
خپل خیر او شر موښه پیژندلی
دی دا ضرورت نشته چه مونږ
ته اوس امر معروف او نهی
منکر وشی څه چه منو هغه به منو
څه چه نه منو هغه به نه منو
عقیده او اراده مو خپله ده که
څوک زمونږ دوستان او خواخوږی
وی مونږ سره دی د خپلو هیلو
او ارمانونو پوره کولو لپاره
مرسته وکړی او هیڅ راز قید
او شرط دی پر مونږ نه تپی ښځی
زما تولی خبری تائید کړی
په پای کښې ئی دومره راته وویل
چه اوس امریکا هم خپلو غلطیو ته
ځیره شوی ده له هغی ورځی نه
چه دغه پاکستان یو نټ
مات شو د پاچاخان په سیاست
مداری او د افغانستان په
خبرونو ټینګ باور وشو چه
پښتونستان یو منلی حقیقت
دی چه پښتانه به ئی جوړوی
زه دا وعده در سره کوم چه زه
په خپل سفر په پای کښې دا
مصاحبه په یوه امریکائی اخبار
کښې ولیکم او کله چه
پاکستان ته لاړه شم نو د پښتونستان
مشران به وینم او باچاخان او دده
ځامنو او نورو مشرانو سره
به ارومرو کړیږم
مرکه همدی ځای کښې
خلاصه شوه له کافی ته راووتلو
مخه ښه مو سره وکړه او سره
بیل شو .

دبیکن آفاقی روش

تر اولسمی پیړی ور وسته انګلستان دنوی عصر دمادیونو دروزلو زانګو شو . دوو انګلیسی پوهانو چه بو یی (فرانسس بیکن) او بل یی (توماس هابس) دی دنوی عصر دمادیت ناوی سینګاره کړه او (جان لاك) د(بیکن) او (هابس) پیل کړی کار ته ادامه ورکړه.

دهغوی دمفکورې اساس داو چه تول علمونه او پوهی د حواسو په وسیله حاصلیږی یعنی موږ یواځی په حواسو په شیانو پوهیدلی شو . په هیڅ موضوع به صحیحه پوهه په لاس رانه شی خو چه دتجربی په محك و نه سنجول له شی . هره هغه تیوری چه دتجربی له خوا بی صحت تصدیق نشی نشه او بی ارزښته ده.

دانګلیس دمادیونو زری اومشر باید (بیکن) وګڼل شی د(بیکن) په نظر ، طبیعی فلسفه یواځنی پخه اورښتونی فلسفه ده، نه ګوروچه فزیك دفلسفی مهمه برخه ده او هغه دحواسو په تجربی استناد لری ؟ »

بیکن ګروه لرله چه « حواس له خطا او سهوې پر څنګ دی او دتولې بشری پوهې چینه، استقرا . تحلیل ،مقایسه، مشاهده او تجربه ده چه دعقلی څیړنلاری د مشهورولارو څخه ګڼل کیږی .

(۱) دمادیت دې لارې خلکو ته یوه علمی ،په عین حال کښی طبیعی مفکوره و ښودله او پس له جوړیدو دې فلسفې دنورو پخوانو فلسفو سره دجګړی اعلان وکړ . دی مفکوری دملوك الطوایفی دموسسو دفکری روش سره چه دواقعی علتو او دطبیعی حادثو دحرکت له قوانینو سره مخالف وو ،مقابله شروع کړه.

نو، ګوروچه (توماس اکیناس) چه دعنعنی له خوا فلسفی شخصیت دی عقیده لری چه علم دتجربی سره شروع کیږی اوحواس دتجربی دپاره مواد برابروی. خو په عین حال کښی دا فلسفی شخصیت غواړی او په دی پسی ګرځی چه داسیستم دی داسی تدوین او برابر کړی چه دینی مشران بی ومنی اردهغوی روحانی مقام ته زیان و نه رسیږی یعنی دخیر ونکو دخولو او زحمتو نتیجی دی دروحانی مشرانو په جیب کښی ولویږی .

خو که دیوهی دروزلو اویر مختګ پسی یو باید د(توماس اکیناس) غوندی خلکو په پله لار نشو او عنعنوی فلسفه نه دیوه حیاتی او فعال عنصر په حیث و پیژنو بلکه هغه باید یو تاریخی او فلسفی مرجع وبولو ،اوله همدی کبله ووچه (بیکن) دتفکر دالارد یوهی دلاری خنډ و ګاڼه بیکن دعنعنوی فلسفی طرفدارانو ته داسی اخطار ورکوی !

هغو خلکو چه دعنعنوی فلسفی لار غوره کړی په حقیقت کښی

بی دپر مختګ په لاری کښی
خنډا چولو په واسطه لو یه
ګناه کړی ده.»

دمادیت دکتورین
دمجرد تفکر په ځای دطبیعی
پوهی د پاره د علمی تجربی
تحقیقاتو توصیه کوی.
دادکتورین دطبیعت په تول
سیستم نه غږیږی خو خپل کار
په مادی تیوری او افاقی
څیړنه بنا کوی او طبیعی عملیی
دتجربی څیړنو په اساس ږدی
خو باید زیاته شی چه د(بیکن)
دتیوری میتود (دعلمی څیړنو
لار) او دهغی څانګی بیا هم
محدود او سکولاستیکی دی
او ځینی تشی خو اوی لری.
خو سره له ځینو «عندی»
خو او بیاهم د(بیکن)تیوری
دزړی فلسفی په سر تندرو.دی
تیوری نه یواځی فیودالیتی
فلسفی ته کلک وارونه ورکړل
بلکه هغه مادی فکرونه یی
وروزل چه دنوی ساینس سره ئی
مطابقت درلود.

د(بیکن) دوه مهم اثرونه
یو «دپوهی پرمختګ» او بل
«نوی منطق» فلسفی اثرونه
نه دی او دشیانو پر طبیعت نه
غږیږی بلکه دا دوه اثرونه
یو راز څیړنلار چه دهغی په
اساس د طبیعی شیانو پوهه
په لاس راځی - تشریحوی.

«نوی منطق په لمړی برخی
کښی بیکن خپل تول افکار
دعمده پرنسیپونو په قالب کښی
دغسی «انسان هغو مره پوهیږی
چه پر طبیعت نظر لری او پری
فکر کوی»

(بیکن) په خپل بل اثر کښی
چه «پوهی پرمختګ نومیږی
لیکی: «تول ه کتوره طبیعی
فلسفه دوه اړخونه لری. یوه
خوایی دتجربی له لاری علتونه
او بله خوائی د علتونو له لاری
نوی تجربی مومی» (بیکن)
په خپل نوی منطق کښی
داعلمی نظر دپخوانو پوهانو
دفکرو سره مقایسه کوی.

دساینس خاوندانو په باره
کښی داسی وایی: «هغو خلکو
چه له ساینس سره ئی سروکار
لاره یا یواځی په تجربی ولاړ و
او یا یی هم په نصوصو اتکا لرله
هغوی چه په تجربی استناد
لاره لکه میږی غوندی دی
چه لمړی یی تولوی او بیا یی
استعمالوی او نصوصی پوهان
لکه غنی دی له چه خپل ځانه تار
راوباسی خو د شاتومچی ددغو
دواړو تر منځ ده. ځکه هغه
له خارجی محیط (ګل) څخه
مواد را اخلی او پس له هغی یی
په مهارت هضموی» دواقعی
فلسفی کړنلار شاتو له مچی
تو پیر نلری. یعنی لکه مچی
نه یواځی پخپل فکر او دماغ
استناد کوی او نه هغه مواد
چه دتاریخی تجربو پواسطه یی
په ذهن کښی غونډ شوی په
هماغه صورت پریږدی بلکه
خارجی مواد د خپل ذکا
پواسطه بدلوی او هضموی یی»

بیکن ګروهه لرله: «هغه
پوهه چه له علمی لاری لاس ته
راشی آفاقی وی، یعنی اصل
او ریښه یی بیرته واقعی نړۍ
ته رسیږی او همغه تشریحوی
که څه هم دا تشریح ناقصه وی.»

بیکن په خپل نوی منطق کښې
دی معلوماتو ته «د تصویر پوهه
یا د ژوندانعکاس وایی»
(بیکن) د علم «پوهې پر مختګ»
کتاب کښې وایی چه «خدای»
د انسان ماغزه لکه هیندار ه داسې
جوړ کړی او داهیند اره د ا
قدرت لری چه کاینناتو تصویر
په کښې انعکاس و کړی.

هماغو مره چه ستر ګی له
رڼا خوشالیږی هغومره د ماغ
هم د خارجی نړۍ له اغیزو کیف
وری»

نو د بیکن د کتورین پـه
لنډه تو ګه دا سر لیکلی هو.

«۱) سائیس د پوهی پوا لحنی
لاره ده.

«۲» علمی پوهه په کتنی
استفاد لری، په هغسی کتنی
چه علمی تیوری ګانې تری
پهلاس راځی. دا کتنې پـه
خپل وار د نورو کتنو په واسطه
تاویل، تجربه او تفسیر یږی
او دالار نوری تیوری ګانی
د ګرته راباسي.

«۳» علمی پوهه حقه ده او
غیر له سائیس څخه د آ فاقي
حقیقت د حصول د پاره هیڅ بله
لار نشته.

«٤» علمی لار نه پوا لحی د
مرتبو حقایقو برخلافه ده بلکه
له نصوصی لار سره هم توپیر لری:
له دی خبرو څخه د بیکن مراد
هغه تیوری ګانې دی چه ده کتنی
اساس نوی بنیاد شوی او پوا لحی
پر هغو پر اسپیو ولاړی وي چه
په تخمینی ډول د تجربې کومه
ریښه په کښې پرته وی.

د بیکن مادیت د تناقض دوئی
لښته ده خود د ه د کتور ینو ئي
په ډیر چد یت د سکو لا ستیک
د فلسفی د بیخه را ښکو د پاره کار
کړی دی بیکن نه پوازی د خپل
عصر د طبیعی سائینس څخه ګټه
آ خستی او هغه ستایی بلکه د
طبیعی سائینس متو د او لار د
پوهی پوا لحنی لار بولی یعنی
د طبیعي نړۍ او تولنی تصویر
پورازی د سائینس له لاری
رسیدلای شی.

کوم وخت چه سائینس پـوه
د جامعی یا طبیعت په باره کښې
یو کتاب ولیکی نو نوره ارتیا
نلری چه کومه ماورا ی طبیعی
فلسفه په کښې ننه باسی.

داوو د بیکن د فلسفي لارلنډ
شرح چه علم او خبر ني مینا لـوته
موو ړاندی کړ.

وارشول . وینی وبهیدی اوډېر ارمانجن
شاه زلمیان پکښې نیست شول په پای کښې
نه ماتیدونکی مات او په شا شول . دمیدان
فاتح اوس نوم لری او ټول شرق ورته
احترام کوی ده دلمړی ځل دپاره هغه څه
وکړه چه ټول شرق ورته په ارمان و . په دی
حال کښې یو متین او غښتلی ځوان وروو
رو ددوی په مرکې کښې ورګد شو
ځوان د شخړی څرنګوالی ټول ورته
په خپلی خولی وویل او هغوی بی حیران
اوهك اوپك کړل نو ځکه یی د پیژند ګلرې
پوښتنه تری وکړه . ځوان خو اول
لږ څه مکث غوندی وکړ له مکث څخه ئی
داسی بریښید . چه په فکر کښې ډوب شو
او یا دژوند د محبوبی په فکر له میدان نه والوت
خو لږ درنګ وروسته یی سر پورته کړ او په
سړه سینه یی اواز پورته کړ اووی وویل «زه
همغه دانګریزانو ماتونکی د میوند فاتح
سردار ایوب یم چه جاپان ته برار یږم »

کاکړ

زمونږ ملي...

جرمن ته مانه ور کړی وه او
بین المللی ستره جګړه یې ګټلی
وه نوځنګه به پښتانه له دوی
سره دجګړی کولو خیال کوی
اوځنګه به دوی دنړی دډېر
زورور طاقت په حیث د پښتنو
حق نه غاړه زدی مګر دپښتون
قام او ولس فیصله بل څه وه.
چه په دې پوه شول پرنګیان
د دوی حق نه غاړه نه زدی
نو بې پهزغرده د جنګ اعلان
ور کړاوپه درې خواو- خیبر
پیوار، اوسپین بولدك ئې بری
ودانګل دا باید وویل شی چه
انګریزانو (۳٤۰،۰۰۰) عسکر
د پښتنو په لور را وخوځول.
همداراز عصری وسلی چه توپ
تو یك، طیاری او بمونه
یکښې شامل و، هم زیات ارل
د دوی په مقابل کښې پښتو
(۵۰،۰۰۰) منظم عسکر او
یوازې څو سوه توپکونه ول
مګر پښتانه دې خیر بوسی دجنګ
په وخت کښې ټول جنګیالی اوسیدل
عسکرشی او ښځی او بچاوغ
هم یکښې برخه اخلی، صرف
لدې چه انګریزان دېر وواوښت
په بین المللی جنګ کښې یې
دجنګ ټول رازونه تازه زده

کړی وو، خوبیا هم د پیوار په
دره کښې لاس او پښې شول.
د پښتنو عسکر و د جنرال
محمد نادرخان په مشرتابه
داسې ګذارونه پری وکړل
چه دوی ته یوازې نېښته پاتې
شوه، نل اوندور ځابو نه یې تری
ونیل او د دوی په اصطلاح
د هند پاچا امپراتوری کښې
وسوه د ننه شپل د جنرال
محمد نادرخان فتح دوی دپښتو
په فکر کښې چه افغانستان
بالکل پرېږدی او اوس دهند
ابادهامپراطوری له توته کیدو
څخه خلاصه کړی همدغه وجه
وه چه د ۱۹۱٤ د ۱۹۱۹
کال دمی په ۲٦ چه د ۱۲۹۷
کال د جوزا شپږمه شی
انګریزانو د پښتنو کامله
خپلواکی ومنله او په دې ډول
بې د خپلې امپراتوری دتوته کیدو
څخه له ځان څخه بری کړ.
که انګریزی موږ ځان ګډایی
چه د جنګ په فتح کښې یوازې
په وخت کښې ټول جنګیالی اوسیدل
عسکرشی او ښځی او بچاوغ
هم یکښې برخه اخلی، صرف
لدې چه انګریزان دېر وواوښت
په بین المللی جنګ کښې یې
دجنګ ټول رازونه تازه زده

وغورځول، نو افغانی حکومت
له دوی څخه دمتارکې غوښتنه
وکړه. مګر دعقل او فکر خاوندان
په لږ سوچ سره د اپروپا ګند
غلط او بې اساسه ثابتوی که
انګریزان متارکې نه حاصل بدل
نو څه بې دجنګ نه روهبی
دپښتو حق نه غاړه نه ایښوولو
او ولی ئې د پښتنو ابدی
دښمنی د ځان کوله؟ مګر نه
اصله خبره دا ده چه څو وخت چه
دوی دپښتون ولس زور ولید
او په دې فکر شول چه د هند
اباده امپراتوری به تو ته توته
شی، نو ئې دوراندیشی وکړه
او دافغانستان به استقلال ئې
له ناکامه اقرار وکړ لنډه
داچه د جوزا شپږمه د پښتو
دیاره دمپراتورۍ زور،
عظمت او پښتنو الی ورځ ده
پښتون نسل نه ښائی چه ددې
ورځی درناوی وکړی او هغه
شخصیتونه او قهرمانان چه
ددوی دلار ښوونې یه مرسته
پښتون ولس وکړای شوه
د نړی اول امپر قوت مات
کړی او خپل بالملی استقلال
بېرته ترې خپل کړی وستائی
او قدر ئې وکړی.

م حسن کاکړ

«دولتی مطبعه»